# د کتاب ځانګړني

دکتاب نوم : پنځوس میلیونه

لیکوال : عبدالوکیل سوله مل شینواری

خپرندوی : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني

لړ : ۶۷

چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ نیټه : ۱۳۸۳ل / ۲۰۰۵ م

ډیزاین : حاجي محمد( عمرخیل)

چاپ او کمپیوټر ځای د دانش خپروندیې ټولنې تخنیکي ځانګه

Ketabton.com

د انټیرنیټ په مخ اړو نکی سمسور حبیبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لنډو کیسو له نوې ټولګې سره

دا دی د پښتو د تکړه کیسه لیکونکي ښاغلي عبدالوکیل شینواري د لنډو کیسو دویمه ټولګه چاپ ته چمتو کېدونکې ده. د لنډو کیسو لومړنۍ ټولګه یې څو کاله مخکې د " زړه کلا " په نامه چاپ او خپره شوې ده

.

د ښاغلي شینواري د دغې داستاني ټولګې خپـــراوی بـــه دا خبره په ښه توګه څرګنده کړي چې نوموړی، د پښتو داستاني ادبیاتو له اوسنیو د حساب وړ څـــېرو څخه یو دی. په دغه مجموعه کې موږ ته ښاغلی شینواری خپل ځان د یو نوښتګر کیسه لیکونکي په توګه راپېژني او پر داسې موضوعګانو هم قلم چلوي چې زموږ د کیسه لیکنې په روایت او عنعنه کې پرې که مخکې قلمونه هم چلېدلي وي، ډېر لـــږ او استثنا یـــي بـــه وو، لـــه همـــدې کبـــله یې په تېره بیا د کیسې موضوعګانې ډېرې نوې او په زړه پورې دي. په دغه داستاني ټولګه کې څو نور ټکي هم داسې دي چې په ځانګړې تـــوګـــه ورته لنډه اشاره په کار ده:
لومړنۍ خبره دا ده چې په دغو کیسو کې د افغاني ټولنې ډېر نوي او تازه واقعیتونه په یوه نوې بڼه ځان راڅـــرګندوي، دا تر ډېره ځایه پورې هغه زاړه او سولیدلي واقعیتونه نه دي چې کلونه کلونه پرې زموږ د لیـــکوالو قلمونو" شخوند "وهلی دی او اوس له هنري پلوه په ډېرو سولیدلیو واقعیتونو بدل شوي او له همدې کبله پرې تل ادبي کره کتونکي کره کتنې کړي او په تیره بیا د پښتو کیسه لیکنې په راروانه عنعنه کـــې یـــې پـــرې کـــله کله د ابتذال ټاپې لګولې دي. په دې ټولګه او د دې ټولګې په بېلابېلو کیسو کې ، لیکوال هڅه کړې ده چې د منځپانګې او موضوع له پلوه ، د داستان ځولۍ له ډېرو نویو موضوعاتو هم ډکه شي

.

دویمه خبره دا ده چې ښـــاغلي لیکوال هڅه کړې ده چې د هغې ټولنې ځینې واقعیتونه هم تر یو ځایه پورې په خپلو دغو هنري هستونو کې ځای کړي چې ، دی ژوند په کې کوي. ډېر کلونه کېږي چې ښاغلی لیکوال په جسمي لحاظ له هېـــواده بهر دی. د لـــویـــدیځې ټولنې د ژوند ځینې اړخونه هم د دغو کیسو موضوع جوړوي ، خو په دې لړ کې هم هڅه شوې ده چـــې له ډولونو څخه په یو ډول یې له وطن او د وطن له مسایلو سره غوټه کړي.

تر کـــــومـــه ځایه چې ما ته معلومېدای شي ، په دې ټولګه کې له" امیب "نومې لنډې کیسې پرته نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسې ښاغلي لیکوال هم ډېرې تازه لیکلي او ځینې یې ان چې په کومه خپرونه کې په متفرقه بڼه هم نه دي خپرې شوي او تاسو ادب دوستان او کیسه دوستان یې د لومړي ځل لپاره په همدغه ټولګه کې لولئ.

موږ ته په ځانګړې توګه د خوښې خبره دا ده چې د ښاغلي لیکوال عبدالوکیل شینواري لومړنۍ داستاني ټولګه هم خپله د هغه په خپل لګښت د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له لورې خپره شوه او دا دی د دې لګښت هم په خپله غاړه اخلي او د خپراوي ویاړ یې بیا هم ټولنې ته ور په برخه کوي.

د ښاغلي لیکوال د نورو سترو هنري بریاوو په هیله، تاسو د دغو په زړه پورې کیسو لوستلو ته رابولم.

زرین انځور

جرمني، د کولن ښار

د 2004 کال د سپتمبر شلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د يوې وعدې په پلمه

پر خپل هنري اثر څه کښل ډېر معمول نه دي ، خو د يوې وعدې له مخې چې مې د خپل يوه نږدې دوست او خوږ ژبي شاعر سره کړې ، له دې دوده سرغړوم.

مــا چـــې کـلـه د پنځوس مېليونه کيسه وکښله ، نود مخه تر دې چې کومې خپرونې ته يې د خپراوي لپاره واستوم ، ځېـــنو دوستانـــو ته مې د لوستلو لپاره واستوله ، او چې څنګه دوی ته ورسېده له هماغه دمه ځېنو خوښه ، ځېنې چوپه خـولــه او ځېنو لکه ستانه مير زهير د مخه تر دې چې کيسه تر پايه ولولي راته وليکل چې کيسه مې سياسي رنګ لري او دې ټکي له هنر او ادبي جوهره بې برخې کړې ده.

يو له دغو کسانو چې د دې کيسې په باب يې په ليکلې بڼه خپل ليد راواستاوه ما ته ګران نثار صاحب دی ،او ما هم په هماغه دم وعده وکړه چې زه به يې کره کتنه کټ مټ خپروم ، خو دا مې له ځانه ونه پوښتل چې چېرې ؟دا ده اوس يې وعده پرځای کوم او ليکنه يې کټ مټ رااخلم:
هيله ده له بچيانو او يارانو سره دې ښه وی!
وروره !ډرامه ګۍ مې درته ولوسته ، ډېر عالی !فقط د مره وايم چې:

سلفيان او وهابيــــان دواړه يـــو شـــی نه دي ، که راسره موافق يې نو دغه دواړه په پنجپيرانو واړاوه.
-پادشاه او شېر پنجه په يوه کانــــي مه تله او حقيقت هم دا ډول نه دی ، ځکه چې پادشاه د هغه ترهګر په ورمېږ پښه ايښودې وه او خراب تراب او زولانه يې د ايټاليا پوليسو ته ورسپارلی. تر دې چې وايې اوس هم په زندان کې دی ، البته مسعود منم چې ژوبل او چغړيت يې ستاسې په قول ښکاره شو.

-دغه راز په هغه ځای کې چې جانداد د اسامه په ځای خپل د ادکې مور زوی ته د مرګ تابيا نيسي ، نو لږ ګوتې ډېر درخخه ډيالوګ مصنوعی شوی دی ، په خو دليلونو:
-د ښځې او مېړه ترمنځ د زرداد په اړه سوال او ځواب لوستونکو ته څه خاص معلومات نه لېږدوي ، هيره دې نه کړو چې د جانداد په څېر حرفوي قاتلان له ځانه سېوا په هېچا باور نه کوي ، حتی په خدای پاک هم ، ښځه خو هسې هم ناقص العقل ده.
له ورور زرداد سره يې تکرار هـــم د وضعيت په تناظر کې کاملاً غير طبيعي دی. زما په فکر څنګه چې په کوټه ورننوځي بايد چې سر ځېنې قلم کړي ، دا خو څه بلا تشبيه د ابراهيم عليه السلام قرباني نه وه چې د خدای د حکم تعميل يې کاوه.

نوره نو ډېره ښه وه ، خوښه مې شوه ، خو دا راته ووايه چې لنډه کيسه دې ولې ورباندې نه ليکله ؟بخښنه غواړم ، ليکوال يا شاعر ته فرمايش يا سپارښتنه کول نقدن ګناهګانې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په درناوي
نثار نورالحبيب
د اپريل 22 - 2004
پشاور ، پاکستان

دا چې دا کيسه د ښاغلي زهيـــر په اند په سياسيوالي د کيسې له قطاره بايد ووځي او که ګران نثار په کې ګنې خامۍ راباسي دا د دوی اند او انګېرنه ده ، خو سياسيوالی بيا په ما دا کيسه ګرانه کړې او په همدې موخه مې کښلې هم ده.

دا کيسه لکه د دې کتاب د ډېرو کيسو برعکس کومه اورېدلې او ليدلې پېښه نه جوړوي ، بلکې هرڅه يې زما خپل خيال او تصور دی ، خو کيسه د افغانستان له رښتيا خړوبېږي ، هغه رښتيا چې زموږ د رنځېدلي ملت يو تريخ حقيقت جوړوي.

ما په دې کيـــسه کـــې زموږ د رنځېدلي اولس پر سردلو بې داصلي لوبغاړو د پېژندنې هڅه کړې، ما غو ښتې وو ايم چې زموږ ډېر ټوپک سالاران د پيسو ، شهرت او مقام لپاره په هېڅ اړ نه دي ، او د دې موخو د لاسته راوړلو په لاره کـې د هېڅ ګناه او خطا نه نه بيرېږي. همدا ځېر مې له دوی سره يو ځای د دوی معامله ګر هم په همدې تله تـــللي. لــه دوی ( امريکايانو ) لپاره هم مهمه نه ده چې د معاملې اړخ يې څومره ظالم ، شيطان ، مکار او ګنــهـــکار دی ، او دوی هم د خپلو اهدافو د پلي کولو په پروسه کې له هرکس او ناکس ګنهکار او خيرن سره معاملې ته چمتو دي.

دا د اوسني افغـــانســـتان يو تـريخ حقيقت دی ، خو دا چې دا هرڅه مې د کيسې په چوکاټ کې څومره راو ستي، پخپله څه پرې نه کـــاږم ، يـــوازې د څــــــو تــــــوضيحاتو حق له ښاغلي نثار او نورو غواړم.
- "پنځوس مېليونه" که لنډه کيسه نه ده ، ډرامه خو هم په هېڅ ډول نه ده.

- دا چې د کيسې اتل د پادشاه ټيپي کېدل او د مسعود وژل کـــېدل څنګه بيروي او ولې سلفيان او وهابيان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيل بيل مفاهيم ګڼي. د ده خپله پوهه او اند دی ، نه زما او نه د ښـاغـلي نشـار دا زه نه یم ، دا هماغه قوماندان دی او ټول قوماندانان د ښاغلي نثار غوندې پوهه نه لري.

ګران نثار د خپل سکني ورور د وژنې په درشل کې د ورونو ترمنځ مکالمه مصنوعي بـولي ، خو زما په اند دا هم د کيسې د اتل چې قاتل دی ، ځانګړی روان دی او ټول قاتلين هم ورته روان نـه لري. هر ګنهکار که ګـناه هم کوي بيا هم ځانته د ګناه توجيه لټوي او ځانته د خپلې ګناه ځخه د وتلو يوه لار جوړوي ، زه د دې خلاف د کيسې دا برخه ډېره په زړه پورې بولم.

دا رښتيا ده چې د کيسې اتل د ورور د وژنې په تياري سره سړی د ابراهيم عليه السلام داستان ته بيايي ، دا سمه ده چې دی منافق ، خطاکار او د پيسو غلام دی، خو له دې ټولو سره سره په خدای او عذاب باور لري.

په ټـولګه کې راغلې يوازې درې کيسې: همدا پنځوس مېليونه ، بېربدلې نانځکه او رسوايي زما د خپل ذهن او تخيل زېږنده دي. د ټولګې پاتې ټولې کيسې مې له يو چا اورېدلي او بيا مې پخپله خوښه هر اتل او هره پېښه هسې چې مې غوښتي ترسيم او انځور کړي. په دې ډول مې ټولو پېښو او اتلانو ته نوې ساه او فضا ورپوه کړې.

ښايي ځـينې کيسې ګڼې پوښتنې او عکس العملونه د ځينو په زړونو کې راوټوکوي ، خو زه ټولو لو ستو نکيو ته دا وايم چې که د واقعيتونو ژور چان وکړي له دې به لا له مضحکو اتلانو او زړه بوږنوونکو پېښو سره مخ شي.

سوله مل شينواری
براتسلاو ، سلواک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځوس میلیونه

هغه څوک چې بن لادن مړ یا ژوندی امریکایـانو ته وسپاري ، د پنځوس مېلیونه ډالرو انعام به خپل کړي.
خبر لا پای ته نه و رسېدلی چې د جانداد له خولې بې اختیاره ووتل:
پنځوس مېلیونه !
بیـــا یې د مقاومت او جهاد د کلونو نژدې مـلګري ګلداد ته مخ ور واړاوه او د دویم وار لپاره یې د اورېده اسوېلي په ملتیا وویل:

پنځوس مېلیونه ؟ دې ته غوږ په وایي.
ګلداد یې خبره تصدیق کړه:
ښه مشوره ده ، خـو داسـې نر لا مور نه دی زېـــولی چې د ده درک معلوم کړي ؟ هغه په پنځوس مېلیونو سوړو کې پیسې لټوه نو !
جانداد دستي ورغبرګه کړه.
امریکایان ساده ګان نه دي. دوی پـــوهېـږي چـــې په پنځوس مېلیونو سوړو کې د هغه درک همداسې پنځوس مېلیونه کلونه او سرونه غواړي.
بیا یې ګلداد ته وویل:
خو پنځوس مېلیونه ډالره هم په خوله یادېږي ، که سړی د دې پیسو له پاره 50 مېلیونه خطرونه هم په ځان ومني لا کم دي.
خو ګلداد وویراوه:

- خو هغه ګوره داسې وړې سپکې نه دی خـــوړلـی ، د هغه معاملې کې ګوتې وهل ، لکه په سره انګار کې چې پښې ږدې ، له امریکایانو نه د ده خبـــرلـوخې ډېـــر دي. او چې خبر شي درباندې ولا چې د پنځوس مېلیونو سوړو څخه خو دې راوباسي.
جانداد په خندا شو.
- او پنځوس مېلیونه میخونه خو دې په سر ټک وهي.
خو ژر بېرته اصلي خبرې ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-ښه څه یې کوې ، اوس اصلي خبرې ته راشه ! ته څه وایې ، چې که متې پسې رابله وهم ، څه به ونه شي. په طالبانو کې خو بلا لوی خلک لرم.
ګلداد وپوښت:
-نو ته وایې چې ځان یې لیکو ته ورګډ کړې.
جانداد ځواب ورکړ:
-خود ، که خدای یې کوم وت راپیدا کړي.
ګلداد یې خبره تایید کړه:
-دا خو دې ولا ښه سوچ کړی ، چې مازې بوی یې درشي او په ډاډه شې ، امریکایان دې خالي لاس نه پرېږدي ، د خلکو خولو کې ګوتې ووهه ، څه هرومرو ترې راوځي.
جانداد وپوښت:

-څه وایې ، چې دا کار څنګه کېدونکی دی ؟
ګلداد په بیړه ځواب ورکړ:
-کار خو ګران ، خو شونی دی. بس داسې وکړه چې په غرونو ورسرا و طالبانو ته ځان وروسپاره او زه به د امریکایانو سره شم. بس چې څه اورې او ګورې ، ما ته احوال رالېږه. بیا زه پوه شه او امریکایان.
دوی په همدې خبرو کې وو چې د ماښام اذان وشو ، او په اورېدو یې دواړو خبرې بس او په منډه یې جومات ته ځان ورساوه.

جانداد له لمانځه وروسته ګلداد سره مخه ښه وکړه او کور ته روان شو. کور ته د راتګ په ټوله لار یې ګڼو فکرونو زړه ته لار وکړه او هغه ټول په بن لادن او د 50 مېلیونو ډالرو په هوس راتاوېدل. وېرې وا خیست او څه عجیبه پوښتنې ورسره پیدا شوې. که رابانديې پوه شي ؟ دوی یې چې په دومره سړو او پیسو کې نه شي لاندې کولی زه به یې څنګه وموم ؟

-چې ظاهرشاه یې په ایټالیا او مسعود یې په چاریکارو کې ښکار شول ، زه څنګه ترې بچېدای شم ؟
په همدې چرتونو او خیالونو کې و چې کور ته راورسېد کور ته په راننوتلو هم هماغه چرتونه او خیالونه ترې راتاو وو او داسې فکر نه کېده چې دی دې په خپل کور کې وي او د خپلې ښځې خوا ته دې ولاړ وي ، بلکې بیخي په بله نړۍ د بن لادن او د پنځوس مېلیونو د هوس په نړۍ کې یې مزلې کولې.
دې پوښتنو او ځوابونو ترې خوب وتښتاوه ، اړخ په اړخ اوښت رااوښت او د اوږدو چرتونو په ټال کې یې ټالی وهلې ، خو دوهمې او ځوانې ښځې یې د چورتونو لړۍ پرې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه درباندې شوي ؟ ويده يې که وېښ !؟
سم له لاسه يې ځواب ورکړ:
- سودا رالوېدلې.
ښځه حيرانه غوندې شوه.
- د څه شي سودا ؟
جانداد ژر ځواب ورکړ:
- د بن لادن.
د ښځې حيرانتيا نور هم زياته شوه.
- بن لادن !؟ ستا يې په هغه څه کار ؟ هغه خو د امريکايانو مدعي دی.
جانداد وپوښتله:
- راډيو دې واورېده ؟
ځواب يې ورکړ:
- نه.
په بيړه يې د راډيو له اعلانه خبره کړه.
- د بن لاندن په مړي يا ژوندي امريکايانو ( 50 ) مېليونه ډالره منلي.
ښځې په حيرانتيا تکرار کړه ؟
- پنځوس مېليونه ډالر !
جانداد وويل:
او ! پنځوس مېليونه.

پنځوس مېليونه يې څو څو ځلې واړول راواړول او بيا يې ښځې ته مخ ور واړاوه.
- پوهېږې ، ښځې ، که مې خدای په دې کار کې کامياب کړي په سرو او سپينو کې به ګرځې. دومره پيسې په خولې يادېږي. بيا به هېڅ قوماندان زما سيال نه وي ، چې پيسې وي سړي هم وي او چې سړي دې وي امريکايان دې هم خپل دي او بيا چې په کوم منصب لاس کېږدې هغه دې خپل دی.
خو ښځې يې وويراوه:
په خزانې پسې که سره زر هم وي څوک ځان اور ته نه ګوزاروي. لرې اوار راځه ! اوس دې د څه شي کمی دی ؟
جانداد وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کمی !!؟ دا دوه موټرکي ، یوه بنګله او دوه دوکانګي ، دا دې ټوله دارایي ده. په دې تاسې دواړه د دومره لښکر بچیانو سره ساتل کېږئ ؟ زه له کوم صاحبه کم یم. له چا کم جنګېدلی یم ، په شمار مې (10) جازونه په ستېینګر و بشتلي ، (25) ټانګونه مې په خپل لاس سوځولي ، (1500) ملحدین مې په خپل لاس له تېغه تېر کړي. دا دومره قربانۍ او دا دومره ستړې ؟ دا ټول په هوا ولوزوم ؟ ؟ جنګ کې دې د مخه او غنیمت کې دې د ټولو شا ته ، دا شونې نه ده.

جانداد په راسبا دستي ګهیځ له کوره ووت ، او نېغ هغو سیمو ته ورغی چې یې فکر کاوه ګوندې بن لادن به هلته پټ وي. د نورستان غرونه ، توره بوړه ، کونړونه، سپین غر ، هلمند ، ارزګان ؟ یو ځای هم ترې پاتې نه شو. خو په هېڅ ځای او سیمه کې د بن لادن څرک ورمعلوم نه شو. په دې لټه یې پوره کال واوښت، خو لټې یې ثمر ورنه کړ. د بن لادن نه میندنې هغه پوره نهیلی کړ. داسې یې انګېرله لکه لویه جګړه چې یې بایللې وي. دا یې خپله لویه ماته ګڼله ، داسې ما ته لکه یو لوی امپراتور چې وي او د یوه هېواد په یرغل کې پاتې راغلی وي.
دې ماتې نه یوازې د ده د (50) مېلیونو حاصل شنډ کړ ، بلکې د ده په نه تسلیمېدونکي غرور یې هم لوی اثر پرېښود.
د دومره ډېرو پیسو هوس یې عجیب فکرونه په ذهن مېلمانه کړي وو :
- کار هم ونه شو او دا د ظالم زوی هم یوه ورځ ضرور راباندې خبرېږي ؟ یو څه فکر په کار دی !؟
نابېره بیا د سوچونو دریاب واخېست.
خامخا باید یو څه وکړم. دا غوپه مې باید له لاسه ونه وځي.
د بن لادن څېره چې له جیبه راوکښله او ښه شیبه یې په ننداره شو.
- دا به چا ته ورته وي ؟
دستي یې په خپله ځان ته ځواب ورکړ.
- خانمیر کاکا ! هغه خو په عمر پوخ دی.
بیا یې شاه ځوان ماما په نظر ورغی.
دی هم ورته دی ، خو دی همم په عمر نه ور برابرېږي.
ګلاب چې خورین یې و ، په ذهن کې تداعي شو.
- دا سرکوزی ورته دی.
- خو افسوس یې وکړ !
کاشکې چې خام نه وای.
په درنګ شېبه کې یې ټول کلي او خپلوان مخې ته ودرېدل او له هر یوه سره یې د بن لادن څېره پرتله کړه ، خو له بل هېچا سره یې سر ونه خوږ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته د راتګ په ټوله لار کې یې دا چرتونه او فکرونه ووهل. په همدې چرتونو کې و ، چې بیا کور ته راورسېد .
کله چې کور ته راورسېد لا یې د کور د دروازې په ډبولو لاس نه و پورې کړی چې له ده کشري یو ازېنې وررور یې له لېرې پرې ورغبږ کړ:
- لالا ستړی مه شې.
جانداد د خپل وررور په لیدو ټکان وخوړ ، خو له حیرانتیا سره یې یوې غیرې مریې خوښۍ په زړه کې ځای ونیو:
دا مې څنګه له یاده و لیدلی و ، دا خو کټ مټ ورته دی ، په خپله هماغه دی ؟.
دې فکر یې په ذهن د خوښۍ احساس پاچا کړ. د مخه تر دې چې کور ته ورننوځي. وررور ته یې په ورو شان وویل:
ته درځه ! زه لږ سارا ته تېرېږم.
په بیړه یې بیا د بن لادن تصویر له جیبه راوکیښ ، او په ننداره یې شو ، ښه پوره شېبه یې د وررور او بن لادن په پرتلې ذهن وجنګاوه. بیا د کشرۍ ښځې کوټې ته ورننوت ، ښځه یې له لیدو په بیړه ورغاړې وته:
ودې مینده !؟
او د ده له خولې د ستي د رحمان بابا دا شعر راووت:
چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي

چا ویل چې په دریاب کې ګوهر نه شته
خو ښځه یې جدي شوه:
څه د لېونیانو غوندې سر یې ؟ سم دم ووایه ! بیا دې موند ؟
جانداد په بیړه ځواب ورکړ:
- خود .
ښځې یې د ځای پوښتنه وکړه:
- چېرته ؟
جانداد ځواب ورکړ:
- همدلته.
هغه حیرانه شوه .
- چېرته دلته !؟
جانداد ځواب ورکړ:
- بس همدلته ، په همدې کور کې.
ښځه نوره هم حیرانه شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا څه په ګډو وډو سر یې.
جانداد موسکی شو:
- نور یې څه کوې، که (50) مېلیونه درته رانه وړم، پنځه مېلیونه خو به شي.
ښځې یې وضاحت وغوښت:
- زه دې په خبرو نه رسېږم.
جانداد ورسپینه کړه:
- دا عکس ګورې؟
ښځې ځواب ورکړ.
- هو، دا خو بن لادن دی.
بیا یې پورته په دېوال کې راځوړند عکس ته ګوته ونیوله:
- پاس عکس وینې؟
ښځې ځواب ورکړ.
- دا خو مې د لېوره، ستا ورور زرداد دی کنه!
جانداد پوښتنه وکړه:
- په دواړو کې فرق وینې؟
ښځې یې په حیرانتیا ځواب ورکړ:
- ؟ دا خو لکه سکه ورونه چې وي.
جانداد کړس په خندا شو.
- راکړه لاس، وموګټله، همدا ستا تصدیق مې په کار و.
ښځې یې په حیرانتیا بیا وپوښت:
څه شی دې وګاټه !؟
ځواب یې ورکړ:
- 50 مېلیونه ډالره.
بیا یې وویل:
- خبره خلاصه شوه.
ښځې یې بیا وپوښت:
- د څه شي خبره؟
جانداد ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د زرداد خبره ، زما د ورور زرداد .
ښځه نوره هم حیرانه شوه .
- ولې څه خبره ده ؟
جانداد ځواب ورکړ :
- بس لکه چې مقصد کې خدای کامیاب کړو .
ښځې وپوښت :
- د څه شي مقصد ؟
جانداد ځواب ورکړ :
- د مېلیونو ډالرو مقصد .
د ښځې زړه تنګ شو .
- خبره رالنډه کړه .
جانداد وویل :
- خبره لنډه شوه .
ښځې بیا وپوښت :
- څنګه ؟
جانداد ځواب ورکړ :
- داسې چې زرداد په مرګ او مورږ په ژوند جنت ته ځو ..
د ښځې له خولې ناڅاپي چېغه پورته شوه :
- دا څه وایې ، وژنې یې ، خدای به اوس اسمان را وغورځوي سکنی ورور دې وژنې ؟ ؟
جانداد احساساتي شو .
- دا په کابل کې چې دا دومره کلونه زمونږ په پاچاهۍ کې مرګونه وشول ، دا څه ورونه نه وو ، هلته ولې خدای اسمان نه را غورځاوه !؟
ښځې نور هېڅ ونه ویل ، خوابدې ، ژړغونې او بېربدلې بلې خونې ته لاړه ، خو جانداد خپل حال ته پرېښښوده ، او نیغ پسې ورغی د تفنګچې لټ یې وواهه او په کراره شان یې د غوږه ورتېره کړه .
- سونې دې ونه باسې ، که دې څوک خبر کړ ، دا شا جور ټول دربانديې تشوم .
بیا یې په کراره سره وویل :
- زه خو دا یوازې ځان لپاره نه کوم ، غواړم چې ان کړوسیانو ته دې د خانانو ژوند جوړ کړم .
ښځې یې چې رېږدېدله په کراره ورغبرګه کړه .
- زه او بچیان مې دې زهر وخورو . د خدای روی وګوره .
خو جانداد لکه چې هېڅ یې نه وي اورېدلي خبره واړوله او د خپل مرام په پلي کېدو شو .
- چېرته ده ، هغه لویه چاړه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې يې هيڅ ځواب ورنه کړ.
جانداد په غوسه شو:
- څه ورکه شه! په بړستنه ننوځه! زه يې پخپله پيدا کوم، خو چې له خولې دې سوڼ ونه خېژي.
لږ وروسته يې لويه چاړه ومېندله او په لږه شېبه کې د خپل مېلمه ورور پسې ورغی.
ورور يې د جانداد د نيمايي شپې بې خبره ورتګ وارخطا کړ او چې کله يې د ده په لاس کې لويه چاړه وليدله وارخطايي څو برابره شوه. فکر يې وکړ چې ورور يې ګواکې لېوني شوی، نيغ په کټ کې راکېناست، د مخه تر دې چې له جانداده د نابېره ننوتو په باب وپوښتي، جانداد ترې رومبی شو:
- مه وارخطا کېږه. د يوې پوښتنې ځواب ته راغلی يم. راته ووايه چې زه دې ورور يم!؟

زرداد په ژړغوني او حېرانوونکي ډول ځواب ورکړ:
خود، ولې دا پوښتنه کوې؟
- جانداد بيا وپوښت:
- زما لپاره هر کار ته حاضر يې؟
ورور يې په کراره د زړه له اخلاصه ځواب ورکړ.
- لالا چې سر مې دې هم په کار وي.
جانداد له خوشالۍ نه وغوړېد.
- شاباس! ورور همداسې وي.
پوښتنه يې تکرار کړه:
- له زړه نه وايې؟
زرداد ځواب ورکړ:
- ما کې منافقت نه شته لالا، تا سره خو وړوکی رالوی شوی يم، ته مې د پلار په ځای يې، په مرۍ کې مې همدا اوس چاړه راکاږه که مې د خولې سوڼ وخوت، خون مې در بښلی!
جانداد نور هم تازه او وغوړېد.
- په ايمان دې رحمت شه.
بيا يې په کراره شان وويل:
- ستا او ځان لپاره مې د ډېرې ښې سودا تابيا کړې.
زرداد حيران شو:
- سودا! د څه شي سودا. سر مې خلاص نه شو؟ څه خبره ده؟
جانداد په بيړه ځواب ورکړ:
- څه يې کوې، د ددواړو په خير ده.
زرداد سپيناوی وغوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لالا ، راسپینه یې کړه ، څه سودا رااچوې. دا څه شی دي ؟
جانداد ځواب ورکړ:
- دا درته نه وایم ، له دې یو خدای ، یو زه او یوه دې کشرۍ ورېندار خبره ده .
زرداد نور هم حیران شو ، خوله یې خبرې ته جوړوله چې جانداد ترې د مخه شو .
- څه څه یې کوې ؟ تا خو وویل چې هر بار درباندې کېږدم ، غاړه ترې نه غړوې.
زرداد بیا ځواب ورکړ:
- لالا ما خو درته وویل چې په مرۍ مې چاړه راکاږې او ستا ښه په شي ، دَووس به نه وکړي ، سر مې درنه ځار لالا .
- دې وروستۍ خبرې جانداد ته د خپل هوډ او نیت حقوقي سند ورکړ.
دستي له ځانه سره ګډ شو .
- اوس مې نو خدای ته هم غاړه خلاصه ده .
بیا یې زرداد ته مخ ور واړاوه او ترې ویې غوښتل:
- بس څه اودس وکړه .
زرداد حیران شو :
- اوس خو د لمانځه وخت نه دی ، لا وختي دی.
جانداد ټینګار وکړ.
- بس خو چې زه څنګه مناسبه ګڼم ، نېک عمل باید په اوداسه کې وشي ، ځکه برکت ښه کوي.
بیا دواړه د نفلي او ثوابي لمونځ په ادا بوخت شول.
جانداد له سلام ګرځولو وروسته د دعا لاسونه پورته کړل او له ځانه سره په خبرو راغی !

- لو یه خدایه ! ته خو پخپله ګواه یې چې ده خپل سر او وینه راوبښله ، په خپل مرحمت مې تول کړې ګناهونه راوبخښې.
- جانداد به له هر لمانځه وروسته په دعا ښه پوره وخت اړاوه ، خو دا ځل یې دوعا ډېر وخت ونه نیو .
زرداد ته یې مخ ور واړاوه:
- ګوره بیا درته وایم ، چې زما او زما د خیر لپاره هره سختي په ځان منې ؟ ګوره خدای هر څه ګوري او اوري یې.
دا ځل زرداد بې حوصلې شو .
- لالا ! دا څه په ګډو وډو سر یې ، څه دې اورېدلي ، خو درته و مې ویل چې سر مې له تا قربان ، دغه دی دربښلی مې دی.
له دې سره سمدستي بیا د جانداد چاړه د سترګو په رپ کې د زرداد مرۍ ته ورسېده او په درنګ شېبه کې یې سر له تنې بېل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه چیغې ژر د جانداد ښځه راخبره کړه ، خو د مخه تر دې چې چیغه کړي. جانداد له لرې پرې غږ کړ:
زه دومره ساده او بې رحمه نه یم ښځې. خدای ګواه دی هر څه اوري او ګوري ، ما ته یې پخپله خپل سر او وینې راوښیل.
ښځې یې غوښتل چې څه ووایي ، خو ده پرېښنبوده.
- خو خدای یې بې اجره نه پرېږدي چې دومره یې زما لپاره وکړل ، زما دعا به یې هم ټول عمر په جنت کې ساتي.
ساه یې واخیسته ، او بیا یې خبره داسې وغزوله.
اوس هر څه چې وشو ، د خدای رضا به وه ، خو چې له خولې دې سونړ ونه خېژي. ښځې یې په داسې حال کې چې له ژړا ریږدېده په ورو شان وویل:
- ستا له لاسه ؟.
خو جانداد یې خبره ژر په خوله کې وچه کړه.
- بس ورکه شه !
بیا یې غلي شان وویل:
- د خدای رضا او د ده خوښه وه ؟ اوس داسې وکړه چې د سر بندوبست یې زما او د تنې یې ستا ، چې بنده ذات درنه خبر نه شي.
- بیا یې په منډه د خپل ورور سر په ځانګړې ټوټه کې وپوښت ، صندوق ته یې ورواچاوه او په بیړه د امریکایانو د پوځي مرکز په لور له کوره ووت.
خپل جیپ یې ودراوه او له څو ساعته مزله وروسته یې بیا د امریکایانو د پوځي مرکز ترمخه. د موټر په دربدو امریکایي پوځیان حیران شول ، په بیړه یې د ژباړن له لارې د ده د ورتګ پوښتنه وکړه ، خو ده د ژباړن په مخ کې هیڅ ځواب ورنه کړ. په ورو یې د یوه پوځي تر غوږه په کرار وویل:
- بن لادن.
- پوځي حیران شو ، خو هغه ژر خپل جیپ ته لاس ونیو ، امریکایي نور هم حیران شو ، بیا یې له ژباړن وغوښتل چې دی وپوښتي ، خو ده ژر په خپلې خولې لاس کېښود او هغه یې وپوهاوه چې له ده سره د بن لادن په باب پټه خبره لري. پوځي په بیړه له ځایه لاړ او په مخابره کولو شو ترڅو د دې معما په باب خپل مقام ته راپور ورکړي. له مقامه دستي امر وشو چې په بیړه یې له موټر سره یوځای وروسوي.
امریکایي پوځي دستي د ده د موټر په لټه شو ، ژر یې د مړ بنیادم بوی پزو ته راغی ، خورا حیران شو ، خو جانداد ژر ورو له غوږه ورتېره کړه.

- بن لادن.
او بیا یې د تېر په څېر په خوله لاس کېښود.
جانداد او ورسره پوځي په درنګ شېبه کې د لښکرکوټ مشر ته ورسېدل. او د مخه تر دې چې هغه ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغبړ لاس ورکړي ، د خپل ورور سر یې د ده په مېز کېښود .
د سر په لیدو د لښکرکوټ د مشر په سترګو کې له ډېرې حیرانتیا او خوشالۍ نه اوښکې راغلې ، فکر یې کاوه چې خوب یې ولید . په یوه ساه یې څو ځلې جانداد وپوښت:
بن لادن ، بن لادن ، بن لادن ؟ ؟
جانداد د ستي سر وښوراوه.
- خود ، پخپله هاغه دی ، بن لادن دی. یو کال د ده په لټه نه رانه غر او نه سمه ټول مې په یوه پښه پسې وکتل ، صاحب !
د لښکرکوټ مشر د منني له څرګندولو وروسته په بیړه په ټېلفون او مخابره سر شو ، لږه شېبه بیا نه وه تېره ، چې د امریکایانو پوځي ځانګړې الوتکه راورسېده او ژوندی جانداد او وژل شوی زرداد دواړه یې د کابل په لور پورته او واخېستل. په کابل کې دواړه سره بیل شول.
دی په کابل کې د پوښتنو او ګروېږنو لپاره تم شو او هغه په مدرنو لابراتوارونو کې د څېړنو لپاره امریکا ته واستول شو.
- د سي آی ای ( CIA ) لوړ رتبه مامور د جانداد په لومړي لیدو له روغبړ وروسته په داسې حال کې چې د خوښۍ احساس یې په ټول بدن خپور و ، جانداد ته له خپل او سپنیز بکسه د (100 ) سل زرو ډالرو بنډل راوویست او ویې ویل:
- دا اوس واخله ، هغه که بن لادن وي او که نه ؟ دا یوازې ستا د ښه نیت ځواب دی او که موږ ته په دې هکله مثبت ځواب راشي ، په هماغه دم دې 50 مېلیونه خپل دي.
جانداد د پنځوس مېلیونو په اورېدو بیا وغوړېد ، په ورو یې د سي آی ای (CIA ) مامور ته کړل:
- خدای دې وخېژوي چې هم ستاسې سر په دنیا کې جګ شي او هم زما خواري اوبه یو نسي.
مامور وخندل:
- ستا خواري خو اوبه نه ده وړې ، ما خو درته وویل: سل زره خو دې خپل شو ، هغه سر که د بن لادن وي او که د بل چا ؟
جانداد وویل:
- که د هغه سر نه وي ، د کوم خپلوان خو به یې وي !
مامور یې په ملاتړ وویل: چې هر څوک او هر رګ یې ورسره شریک وي او زموږ لابراتوارونه یې تصدیق کړي ، که پنځوس نه وي پنځه مېلیونه خو دې خپل دي.
جانداد وویل:
- او که بیخي پردی ، بېګناه څوک وي ، نو بیا ؟
مامور وخندل:
- پس بیا دې همدا یو لک په نصیب کې وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جانداد رنګارنګ خيالونو غلبه راوړه او ګڼې سوداګانې او فکرونه وروليږدل.
که راباندې پوه شي چې ورور مې دی څه به ورته وايم.
- څه سزا به راکړي ؟ ؟ سزا يې په بلا پسې ؟ دا د دنيا او د خدای تعالی شرمنده ګي ګوره.
خو بيا يې زړه ته ډاډ ورکړ.
- څه ! څه يې کوم !؟ ماشينونه هم غلطي کوي ، که دا سې غلطي نه کيدلی ، نو دوی څنګه تېره مياشت د طالبانو په ګومان ماشومان وويشتل ؟ خدای مهربانه دی که لابراتوار غلط شي.

له جانداده دا څو ورځې کېدې چې دا ډول اند يښنې او سوچونه راتاوو وو. په څلورمه ورځ د سي آی ای ( CIA ) بل مامور وروغوښت او دستي يې خبر ورکړ:
- جانداد خانه ! هغه سر د بل چا وخوت !
جانداد وارخطا شو:
- دا څه وايې صاحب ! خواري مې اوبو يوړه ؟ د ده په لټه خو مې پوره کال تېر کړ، نه رانه نورستان او نه وزيرستان ؟ بس الله تعالی به يې نه وژني ، که نه ما خو يو کال ؟.
مامور يې خبره پرې کړه:
- موږ ستا په خبرو باور لرو ، او ستا په اخلاص پوهېږو.
- جانداد له وېرې او وارخطايۍ ژيړ رااوښتی و.
- خو مامور ډاډ ورکړ:
مه ډارېږه ، هرڅوک چې وي، وي به، زه هم که ستا په ځای وای، دا سې مې کول ؟ سرې بايد پرې تېر وځي ، کټ مټ ورته دی. دې کې هېڅ شک نه شته.
جانداد په عجز وويل:
صيب ! دا خو ولا ډېر خراب کار شوی ، هم مې کړې خواري اوبو يوړه او هم مې بېګناه سړی وژلی.
مامور ډاډ ورکړ:
هېڅ خبره نه ده ، سهوه يوازې ته نه کوې ، موږ هم کله ناکله تېر وځو. څو ځلې رانه د طالبانو په ځای عادي وګړي او کوچنيان لګېدلي.
بيا له خپلې چوکۍ راپورته او جانداد ته يې نور پنځوس زره ډالره هم ورکړل.
بس دا خبرې د دندو په سر ته رسولو کې پېښېږي ، خو دا ځل تېر نه وځې ، دا ځل به مو د رښتيني بن لادن په سر نمانځې چې هم ته په ډالرو کې ولامبې او هم موږ د تروريزم سره په مبارزه کې ستر برى لاس ته راوړو
براتسلاو ، سلواکيا
2004.1.10

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېړېدلې نانځکه

ګلاب چې د ويسکي څلورم جام په سر را واړاوه ، نو په بيړه يې له کاتيا لاسونه راتاو کړل ، خو هغې ژر
ټيل واهه.
-لږ ودرېږه ! چېرته بيړه لرې ؟
ګلاب ستړګې سپينې او بېرته يې خپلې شونډې د هغې په شونډو کېښودې ، لږ وروسته دواړو يو د بل
تنيو ته لاسونه ورتېر کړل. د کميس وروستۍ تڼۍ يې پرانېستلې چې د ټيليفون آواز شو ، ګلاب په
غوربدو غوربدو ټيليفون ته ورغی:
-په غضب شئ ، وخت او ناوخت نه ګورئ !
د ټيليفون غوږۍ يې په تاو پورته کړه :
-هلو !ګلاب يم.
له مخامخ لورې له سلام اچولو پرته ځواب ورغی:
-خنځيره !نه مې درته ويل چې په دې ډمه مې پګړۍ په زمکه مه وله ، در يې وله ! پنځه کاله دې د دې پانه
وانه ړوله.
له دې سره ټيليفون ژر بند شو .
د ګلاب سر خلاص نه شو ، سودا ورولوېده ، ژر يې بېرته د ټيليفون په کولو لاس پورې کړ ، خو لا يې
وروستۍ شمېره نه وه وهلې چې کاتيا له لاسه راونيوه :
-هېڅ آداب دې نه دي زده ، ما خو درته ويل ، بيړه مه کوه چې دا سې دې ټيليفونونه اوربدل ، زه دې ولې
لوځولم ؟
ګلاب وررغبرګه کړه :
-لږه اودرېږه !څه مهمه خبره ده .
کاتيا ژر ځواب ورکړ :
-په بلا يې ووهه !د ټيليفون مزی راوباسه !اوس دې زه راپارولې يم ، څه !د خوب کوټې ته ځو .
دا ځل دواړه بربنډ شوي وو چې بيا د ټيليفون غږ شو او چې څو د کاتيا پام کېده ، ګلاب په منډه ټيليفون
ته ځان ورساوه .
-هلو !
ځواب يې واورېد :

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه جلال الدین ، ستا تره یم. پلار دې له غوسې درته نه دي ویلي ؟ زه به یې درسپینه کړم.
ګلاب حیران شو :
- ولې څه خبره ده ؟
تره یې ځواب ورکړ :
ښځه ډمه دې د سرې سره ونیوه.
ګلاب په خبرو کې ورولوېد :
- لږه اشاره ابا هم راکړه ؟ لږه مو کړه که در نه ختا شوه ؟
- هو ! په هماغه دم مو له هغه خنځیر سره یو ځای ؟
- چا ؟
- نسیم وراره ، زوی دې !

ګلاب په غرور ورغبرګه کړه :
- وا ، شاباس ! نره ! دی هم ګولی ورولی شي.
تره یې هم په غرور ځواب ورکړ :
- دوه جاغوره یې پرې تش کړي.
دا ځل کاتیا په ډېرې بې صبرۍ د ګلاب له لاسه تېلېفون راواخېست او په شرک یې په مځکه کېښود ، بیا یې په بې شرمۍ د تېلېفون مزی راوکېښ.
- درته ومې ویل چې د تېلېفون مزی راوباسه ، که مې اشتها وسوه بیا چې راته په زاریو مړ هم شې ؟ ولاکه ؟
ګلاب ژر په ننواتو شو :
- سمه ده ګرانې ! هرڅه منم ، ملامت یم ؟ خو دا ډېر مهم تېلېفون و.
کاتیا وپوښتل :
- له کومه ځایه ؟
ګلاب ځواب ورکړ :
- له پاکستانه ، له کوره ؟
- مبرمن دې وه ؟
ګلاب په غوسه شو.
- دا غوا راته مه یادوه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاتیا موسکۍ شوه.
- له کله راهیسې دراندې دومره ګرانه شوم ؟
ګلاب په مکیز ځواب ورکړ:
- ته تل په ما ګرانه وې.
بیا یې او ږد اوسیلی وکړ:
خو دا ګرانښت راته ډېر ګران تمام شو.
هغه هم حیرانه شوه.
- ولې څه خبره ده ؟
- ګلاب ژر ځواب ورکړ:
- له مېړمنې خلاص شوم.
- هغې په تعجب وپوښتل:
- دا څه وايې ؟ مړه شوه ؟
- نه مړه نه شوه ، مړه يې کړه.
- چا ؟
- هغه په غرور ځواب ورکړ:
- زما زمرۍ زوی.
هغه نوره هم حیرانه شوه.
- دا څنګه ؟ ستا زوی خپله مور !؟
په آرمه یې ځواب ورکړ:

- هو کاتیا ! دا زموږ رواج او رسم دی چې ښځه له خپل مېړه پرته له هر پردي سره په زنا او خطا په هماغه دم وژني.
- هغې ټوپ کړ:
- دا څه وحشت دی ، زوی خپله مور ؟.
هغې ته نوره هم سودا ورولوېده:
- نو ما او تا خو هم واده نه دی کړی ، که ستا زوی ما له تا سره ووینې !!
ګلاب په سړه سینه ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ښه مرغه لا د اسې پېښه نه ده شوې چې چا دې خپل نارینه له پردۍ ښځې سره په زنا او خطا وژلی وي ؟
کاتیا د ستي استدلال وکړ:

- ته دا عدالت بولې ؟
ګلاب په بیړه ځواب ورکړ:
- اوس به څه د حقوقو لکچر درکوم ، رانږدې شه چې په هر څه تیره کېږدو او سر له سبا د واده پلانونه جوړ کړو . او زما د زمري زوې لپاره د یو بلنلیک چاره هم وسنجوه .
ګلاب له هغې لاسونه راتاو کړل ، خو کاتیا ژر د ده لاس له خپلې اوږې پورې واهه.
- نو که ستا زوی دلته ما له چا سره په دې کار ونیسي ؟
ګلاب د ستي ځواب ورکړ:
- چې له مور سره یې وکړل ، میره څنګه پرېږدي ؟
- کاتیا لکه په ماغزو کې یې چې کړنګ وشي ، په غوسې د خوب کوټې ته لاړه . په بیړه د کالیو په اغوستلو شوه او له ځانه سره ګډه شوه :
- دا وحشت دی ، ظلم دی ؟
ګلاب ژر بیا په زاریو شو :
- نن خو پاتې شه ! سبا به په هر څه په تفصیل رڼا واچوو .
ګوره ! زموږ عنعنې که بدۍ لري ، ښېګڼې هم لري.
خو هغې په زور له هغه خپل لاس راکښوده ، او د تل لپاره یې له ده سره پنځه کلنه دوستي پرېښوده .

سلواکیا . براتسلاوا
د 2003 میلادي کال د نومبر 23

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خیر کار

د دروازې په زوره وهل او د باندې په کوڅه کې د وسله والو طالبانو شور او زوږ د ټنګ ټکور ټول پروګرام ګډوډ او له ټولو یې آرام او خوښي وتښتوله ، ټول له یوه سره په منډه په کوټو کې خواره او د هېڅا له خولې سونګ قدرې ونه خوت ، ټولو یوه بل ته رډ رډ کتل ، خو لویې دروازې ته هېچا زړه نه ښه کاوه ، نا ببره جنت ګل ته یو کس وړاندیز وکړ :

- جنرال صاحب ! ورووځه ، که موږ هر یو لاسته ورشوو ، ولا چې په وهلو خو مو پوستکی وباسي .
جنت ګل په خپله اوږده ږیره لاس راکښود ، کلمه یې په ځان چوف کړه او د دروازې په لور ، ځولې ؟ ځولې ور روان شو :
له دروازې د باندې د وسله والو طالبانو ګواښونو یې په وجود کې وینه وچه کړه ، خو زړورتیا یې له لاسه ورنه کړه ، لویه دروازه یې پرانښسته ، یوازې له دروازې یې سر لږ شان وروویست او بیا په عجز او زاریو سر شو :
-صاحب ! زه پخپله طالب یم ، جنرال یم ، د پولیسو په قوماندانۍ کې یم ، ؟ هسې دې ځوانانو ته دې خدای انصاف ورکړي ؟.
لا خبره یې بشپړه کړې نه وه چې له د باندې یې کلکه څپېړه وخوړه .
- چوپ شه منافقه ! د طالب نوم په ځان مه ږده ، که نه اوس دې دا شاجور په ګېډه درتشوم .
جنت ګل په ورو سر رادننه کړ ، خو لویه دروازه یې هماغسې تړلې پرېښوده او بیا د دروازې له شا په زاریو شو :
- په خدای قسم خورم که چا هېڅ شی کړی وی .
وسله وال طالب وغورېد :
- د دوکښو ساز مو عالمونه په سر اخېستي وو او ته منافق وایې چې هېڅ شی ؟.
جنت ګل بیا ځواب ورکړ :
-صاحب ! ښادي خو خامخا څه خندا او ساتیري غواړي ، خو زه په دا سپینه ږیره درته قسم خورم ، که چا باجه او یا دوکښه وهلې وي .
وسله وال طالب پوښتنه وکړه :
- او که مو بیا درسره پیدا کړل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنت ګل ځواب ورکړ:
- بس غرغره مو کړئ ! ما خو په قوماندانۍ کې ټوله دنیا پېژني.
وسله وال ملا وویل:
- چې داسې ده د دې دوکڼو غږ مو له کومه راته ؟
جنت ګل ځواب ورکړ:
- دا هسې د تېلو بوشکه او لویه د اغږلو کاسه وه.
وسله وال ملا په غوسه شو:
- منافقه په دا سپینه ږیره دروا غ مه وایه.
جنت ګل بیا په قسمونو سر شو:
- په خدای قسم خورم ملا صاحب !؟
د ډلې مشر ملا لږ څه ارام شو:
- ښه چې قسم خورې.. هغه کسان او هغه شیان دلته را حاضر کړه:
جنت ګل وویل:
- په سترګو ! خو سوال درته کوم چې هلکانو ته به څه نه وای.
وسله وال ملا وویل:
- که له کاسې او بوشکې داسې لعنتي ساز جوړولی شي ، بخښنم یې.
په جنت ګل کې په دې خبره سا وچلېده ، ژر په هغو زلمو پسې ورغی او په بېړه یې هغه دوه زلمیان ، بوشکه او کاسه حاضر کړل.
ملا له دروازې ورغږ کړ:
- د باندې یې راوباسه !
جنت ګل زړه نازړه دروازه خلاصه کړه.
- بیا ملا له زلمیانو وپوښتل:
تاسو دې خدای ووهي چې باجه او دوکڼه مو نه دي وهلي ؟
زلمیانو په زړورتیا ځواب ورکړ:
- په خدای قسم خورو.
بیا نو ملا امر ورکړو:
- ښه نو شروع کړئ چې اوس مو دروغ او رښتیا معلوم شي.
زلمیانو دستي د بوشکې او کاسې په وهلو پیل وکړ. ساز لکه جادو په ټولو وسله والو داسې اغېز وکړ چې یوه د درېدلو بولنه نه ورکوله ، خو د ډلې مشر وویل:
- یره دا د کافر شیان خو ولا که د باجې او دوکڼې سره وپېژنې.
وروسته یې زلمیانو ته کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښه تاسې اوس ورسره یوه سندره هم ګډه کړئ !
زلمیانو پوښتنه وکړه:
- کومه سندره !ء
له یوه طالبه غیر ارادي ووتل:
- په طالبانو پورې دې کومه سندره نه ده یاده ؟
زلمیانو دستي ځواب ورکړ:
- طالبه ډېر مې یاد پدې ؟.
د طالبانو مشر په منډه ځواب ورکړ:
- بس د نښې منځ دې وو پشت.
بیا زلمیانو سندره پیل کړه او چې سندرې ټول پسې واخېستل ، نو د طالبانو مشر لکه جادو چې پرې وشي ، نابېره له خولې ووتل:
طالبه خدا بېږو به ملا شې
په کتاب پروت یې یادوې شینکي خالونه
او بیا لکه له خوبه چې راکښیني ، دستي یې امر وکړ:
- هلکان پرېږدئ ، ځکه لوظ مو ورسره کړی ، لوظ نه ماتوو ، دا کاسه او بوشکه راواخلئ ، ټوله خبره په همدې شیانو کې ده.
بیا یې هلکانو ته مخ کړ:
- ځئ کور ته ! معاف مې کړئ ! لوظ نه ماتوو ، خو کاسه او بوشکه پرېږدئ. دې ښار ښتي شي چې په موږ ښار ښت راوست ، ستاسو لاسونه بیا کله او درېږي ، بیا به تر سهاره ګډ یاست.
- د دوی له منځه د یوه طالب له خولې غیر ارادي ووتل:
- ملا صاحب رښتیا وایي ، که لږ دا ساز اوږد شوی وای ، ولا چې زه یې په ګډا راوستی وای.
بل هم د ده په پله وویل:

- ولا چې زما اوږې یې هم له مستې وخوځولې.
درېیم طالب پوښتنه وکړه:
ملا صاحب ! بوشکه او کاسه چېرې وړو ، وړو یې چې چېرته مجلس پرې تود کړو ، که څنګه ؟
ملا په قهر شو:
- بوشکه او کاسه بلې دنیا ته.
بیا یې وویل:
- بس څومره چې دې د کافر شیانو ته ورګوری په تاسو د منکراتو پیریانو کښېني.
بیا یې په زور غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- راواخلئ دا لعنتي شيان چې ولايت ته يې د معجزې کيسه تېره کړو ، بيا هغوی پوه شه او فرمان يې.
بوشکه او کاسه يې راواخېستل او په راسبا يې نبغ د ولايت د امير مخې ته کېښودل.
امير چې څنګه له حاله خبر شو ، هغه هم خورا حيران شو او په حيرانتيا يې وپوښتل:
- رښتيا وايې !؟
ملا ځواب ورکړ:
- په خدای قسم خورم که دې له سم ډول سره پېژندلی وای ، دا سې غربهاري يې کاوه چې څه يې کوې.
بيا د ولايت امير د امر بالمعروف او نهی عن المنکر رئګيس ته مخ وراړاوه.
د امر بالمعروف او نهی عن المنکر رئيس وړانديز وکړ:
- دا مخلوق که هر څومره بند کړې ، يو سوری په هر شکل چې وي ځان ته راوباسي.
والي ته هم خندا ورغله.
- او يوه لار ځانته پيدا کوي.
بيا لږ څه جدي شو !
- ښه چاره څه ده ؟
رئيس ځواب ورکړ:
- بس منکرات چې دومره چالاکي کوي ، موږ يې هم ټول سوري بايد وربند کړو .
امير وپوښت:
- د دې معجزې په باب څه وايې ؟
رئيس په بېړه ځواب ورکړ:
- بس حکومت او يا مشر ملا ته وړانديز وليکه چې د داسې بوشکو او کاسو په وارداتو دې بنديز ولګول شي.
- امير وويل:
- او دا چې راغلي !؟
رئيس ځواب ورکړ:
- د راغليو په اړه دې سر له سبا په لوډسپيکرونو کې اعلان وشي چې ټولې دا ډول کاسې او بوشکې دې زموږ ادارې ته وسپاري.
امير يې په بېړه وړانديز تصديق کړ:
- بس زه همدا اوس دا د خير کار د ستخطوم.
رئيس يې په ملاتړ وويل:
- او زه دا اوس خپلو طالبانو ته امر کوم چې په تطبيق يې لاس پورې کړي.

براتسلاو - سلواکيا
د 2004 ميلادي کال د اپريل 20

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هم دين او هم دنيا

مولوي سيد كريم چې خنګه د ريشي وويستله ، په بيړه بيا كټ ته پورته شو ترڅو يې د الوتكې د اوږده سفر ستړيا ليرې او د څه شېبې لپاره يې سترګې سره ورشي، د شپې لس بجې وې چې د سر څړيكو او درد له درانه خوبه راكېناوه ، ګروپ يې ولګاوه ، بيا بيت الخلا ته لاړ او چې بېرته راوګرځېد دستي يې يخچال پرانېست ، ترڅو څه وڅكي ، ځكه په سرخوږۍ سربېره يې حلق هم له تندې ښه پوره وچ شوی و . د يخچال له پرانېستلو سره سم يې عجيبه فكرونو زړه ته لار وكړه .

- دلته خو داسې بوتلې دي چې هېچرې مې نه دي تر سترګو شوي ځېنې به ضرور د ستړيا او سردردۍ وي. بيا يې په ورو يو كوچنی د "ودكا "د شرابو بوتل راواخېست:
- دا به هرومرو څه دارو وي ، دلته خوشې شيان نه ږدي ، زه خو سردردۍ مړ كړم.
خو بېرته په زړه كې ور وګرځېدل:
- دا كافران ډېر ټګان دي ، هسې نه چې چېرته شراب مراب نه وي ، د كلونو عبادت به په اوبو لاهو كړم.
مولوي د شرابو بوتل سترګو ته ښه رانژدې كړ:
- د شرابو رنګ لكه چې سپين وي !!
د ودكا بوتل يې بېرته كېښود ، سترګې يې د ويسكي په بوتل ولګېدې:
- دا راته شربت ښكاري ، خو خدای دې وكړي چې دارو وي ، هسې تشه كولا مولا نه وي.
په ورو يې د بوتل سر پرانېست ، خو زور يې پرې ونه رسېد . بوتل يې په زمكه كېښود ، سترګې يې په بل بوتل ( كنياكو ) ولګېدې ، له ځانه سره يې كړل:
- خدای مې دې غاړه نه بندوي ، دا بوتل راته روغ ښكاري.
بيا په ټول زور سره د بوتل په پرانېستلو شو :
د مخه تر دې چې له بوتله لږ څه ګيلاس ته راوځنځوي ، بوتل يې سپږمو ته نږدې كړ.
- دا خو د يوناني شربت غوندې بوي كا .
لږ چُرتي شو :

- شی خو معمولی شربت نه دی ، هر شی چې دی ، يا شراب دي او يا دوا ؟
بيا ور په زړه شول:
- وايې دا د كافر زامن ځېنو دواګانو ته هم شراب وراچوي هلته چې د اسلام هېواد دی ، ځومره به مو په ناخبرۍ كې څكلي وي ، دلته چې د كفارو ملک دی ؟ خدای دې راته عفوه وكړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا یې سترګو ته هغه بل بوتل "ویسکي" چې لا یې په یخچال کې بېرته نه و ایښی ، ودرېد :
- ته راځه دا هم بوي کړه.
مولوي د کنیاکو بوتل په خورا احتیاط بېرته یخچال ته کړ او د "ویسکي" په خلاصولو شو ، د بوتل سر په سختۍ خلاص شو . هغه یې هم سپړمو ته وروړ او چې ورته بوي یې سپږمې وتخنولې خورا حیران شو :
- عجیبه ؟ دا خو ټول یو شان دي ؟.
ژر یې لومړنی د "ودکا" بوتل ته لاس ورتېر کړ او په بیړه یې سرور پرانېست. هغه یې هم ژر وازمایه ، دا ځل یې حیرانتیا نوره هم زیاته شوه او څه غلی شان له ځانه سره وبوړنېد :
- دا خو ولاکه بل شی وي ؟ تو لعنت په شیطان.
مولوي په شړک سرخلاصی بوتل بېرته یخچال ته ورتېر کړ. ناهیلی او اندېښمن بېرته په کټ کې وغځېد ، خو لږه شېبه تېره نه وه چې بېرته له ځایه راپاڅېد . دا ځل یې په زړه تلوېزیون ور وورېد :
- ته راځه ، دا د خنځیر شی چالان کړه ، چې په دنیا کې څه خبرې دي.

د تلوېزیون په روښانه کېدو اتومات CNN چالا شو . د دې کانال په خبري سروېس کې د جورج بوش په باب مطلب ویل کېده. مولوي په قهر له ځانه سره وویل:
- دا بلا خو په هر کانال کې لربر کېږي. په پېښور کې، په کابل کې، په دوبۍ کې، هر چېرې ؟ رنګ یې ورک کړه.
دستي یې بل کانال ونیو ، دا د الجزیرې خبري کانال و ، په هغه کې بیا د بن لادن خبره لړه بره کېده او هرومرو د هغه په اړه کوم مطلب خپرېده، مولوي ته د هغه لیدو هم خوند ورنه کړ.
- ته خو په غضب شې ، دنیا ته دې اور واچاوه ، په شرمو دې ټول عالم اسلام وشرماوه.
ژر یې بیا بل کانال کړ. دا د MTV د موسیقۍ ځانګړی کانال و ، په خپرونه کې مادونا په نیمه بربنډه حال کې له نڅا سره یو ځای سندره ویله. د مولوي سترګې چې څنګه د هغې په راښکاره شوو تیونو ولګېدې ، ژر یې سترګې واړولې.
- خدایه ! پرده مې وکړې !
په بیړه یې دا کانال هم واړاوه ، بل کانال د فرانسې و چې یو رومانتیک هنري فلم یې خپراوه ، مولوي یوه شېبه ورته ځیر و ، خو دقیقه لا نه وه تېره چې د فلم د اتلانو غېږه په غېږ کېدل او د یوه بل بربنډول بیا په مولوي پیریان راوستل. نابېره یې غلې شان چیغه کړه:
- دا څه حال دی !؟؟ دا خو له یوې مخې بې لارې کانالونه دي خدای دې معافي راته وکړي.
له ځانه سره یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- یو بل کانال چالانوم ، که هغه هم بې لارې و ، بس ځان هسې نه ګنهکاروم ، بېد یږم.
بل کانال د بربنډو فلمونو سوداګریز کانال و . مولوي لکه مچۍ یې چې وچیچي چیغه کړه او په قهر له ځایه راولاړ شو:
- خدایه له غضبه دې امان غواړم ؟ لعنت دې په شیطان وي ؟ دا څه نخرې دي؟ ژر یې بېرستن ورننوت او لکه بېرېدلی چې وي په روښانه ګروپ کې یې د خوب تابیا وکړه ، خو د یخچال شربتونو او د تلویزیوني خپرونو چرتونو ترې خوب داسې وړی و چې په ګرانۍ یې بېرته رانیولی شو . په دې سربېره یې د سر د درد کړیکې هم ګړۍ په ګړۍ زیاتېدې. پوره درې څلور ګړۍ یې ځان اړخ په اړخ واړاوه را واړاوه ، خو خوب یې له سترګو تښتېدلی و ، د لیوني په څېر له ځانه سره په خبرو راغی !
- خدای دې راته معافي وکړي ، هرڅه چې وي څکم یې ، که شراب هم وي ، کفر ته خو څه پرې نه خېژم ، له دې مې ډېر لوی ګناهونه کړي ؟.
ژر یخچال ته ورغی او په ورو یې پرانېست.
- بس اول د همدغه سپین بوتل مزه ګورم.
په ورو یې د "ودکا " له بوتله ګیلاس ته شراب راوځنځول ، د ودکا څکلو یې مرۍ ترخه غوندې کړه ، ویې ویل:
- ولاکه بل شی وي !؟
بیا یې ورو تلویزیون هم پسې ولګاوه .
- دا د ایټالیا کوم کانال و چې دوه جوړه مینان پکې بربنډ او یو د بل په رودلو بوخت وو ، ملا څو ځلې سترګې پټې ، خو تلویزیون یې ګل نه کړ ، یوازې همدومره یې وویل:
- خدایه ! معافي ، معافي ، توبه ، توبه ! ستا ګنهکار بنده یم.
بیا نو د ملا سترګې له تلویزیونه لیرې نه شوې او چې د ودکا اثر یې ماغزه لږ څه ګرم کړل ، په ورو یې وویل:
- ایله چې دا سرخوږی مې ودرېد .
دا ځل یې بیا په زړه کې څه وګرځېدل.
- راځه دا ځل د دې بل بوتل خوند وګوره .
دستي یې ویسکي په سر را واړاوه.
- دا خو هم هماغسې خوند که.
او چې لږه شېبه تېره شوه ، نو د ملا له خولې غیرارادي ووتل:
- ولا چې تبه مې وشلېده ، دا ځل دا بل ګورم ، چې څه را کې پاتې وي ، ګوندې هغه یې جارو کړي.
خو د مخه تر دې چې مولوي کنیاکو ته لاس کړي ، لکه پوهېدلی چې وي ، نشه کېږي ، څه صبر یې وکړ او ښه پوره شېبه د فلم عشقي صحنو له ځانه سره بوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- او الهي ! د قدرتونو دې جار شم ، په قلم دې رسمه کړې ، په ليدو يې سړي مړېږي نه.
او چې څو صحنې يې پرله پسې وليدې ، بيا يې بل کانال واړاوه.
دا ځل د پاپ مشهوره سندرغاړې شکريه سندره بلله چې تر ډېره نيمه بربنډه وه ، په مولوي دا ښه ولګېده ، زر يې له ځانه سره کړل:
- واه ! قربان خو دې شم ، ته او دربېږه چې زما دا چرتونه لږ نور هم جوړ شي.
د کنياکو بوتل يې په ګيلاس کې راوځنځاوه ، دربيم ګيلاس مولوي ورو پسې واخېست ، نور ترې هر څه هېر شول چې چېرې دی او څه کوي ، په بېړه د تلويزيون د کانالونو په اړولو سر شو.
له ځانه يې وپوښتل:
- هغه لعنتي کانال څه شو ؟ هغه بربنډ ؟
او چې څو کانالونه يې تيرو بير کړل ، نو نابېره يې له خولې چېغه ووتله !
- بس دا دی پيدا شو !
دا ځل يې د وروستي ځل لپاره له ويسکي غړپونه وکړل او په لږه شېبه کې په يوه ساه په لنډو وقفو کې د شرابو وړې بوتلې چې ايله څو ګرامه وو ، وڅکلې ، خو وايي چې د لمدو ختو لږې اوبه بانه وي ، مولوي نور په خود کې نه و. په خپل کټ وغځېد او د مستۍ او خندا په عالم کې يې تر سهاره د بربنډو فلمونو ننداره ته شپه سبا کړه.
سهار وختي چې د ده نور ملګري او د سيمينار برخه وال له خوبه راپاڅېدل ، د ملا ايله نوې سترګې سره ورغلې او په درانه خوب ويده شو ، خو په تلويزيون کې بربنډ فلمونه لا هماغسې د تلويزيون په پردې لړبر کېدل.
د هوټل په رستوران کې له مولوي پرته د سيمينار ټول برخه وال حاضر وو ، او لږه شېبه په نهو بجو ټول بايد له دغه ځايه د سيمينار د جوړېدو ځای ته لېږدېدلی وای. د مولوي غيابت ټولو ته سودا وروا چوله ، يو تن له نورو وپوښتل:
- ملا صاحب ، څنګه نه ښکاري ؟
بل تن چې په الوتکه کې د ملا ترڅنګ ناست و ، ځواب ورکړ:
- ملا لږ څه ناسازه ښکارېده ، هسې نه چې د شپې بې خوبه او اوس خوب پرې غلبه کړې وي.
وړانديز وشو چې مېلمه پال يې بايد پوښتنې ته ورشي چې څه بل څه پرې نه وي شوي ؟
مېلمه پال په دې خبره د ستي له ځايه ولټېد او نېغ د ملا کوټې ته ورغی.
په ورو يې د ملا د خونې دروازه ووهله ، خو هېڅ ځواب ورنه کړل شو ، بيا يې په زوره دروازه ووهله ، خو بيا يې هم هېڅ وانهورېدل. دا ځل يې د دروازې تر شا ورو ورغږ کړ:
- مولوي صاحب !
د مولوي په اورېدو ملا په ورو وټوخېده او ځواب يې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- درځم. سر مه لړ څه د روند دی.
مولوي ژر کالي واغوستل ، په بیړه یې پرانیستې بوتلونه واړول او تش یې باطله دانۍ

ته کړل ، ترڅو چې مولوي ځان جوړاوه بیا د سیمینار ټول برخه وال له هوټله په وتلو شول.
د سیمینار ګډونوال یو یو له دروازې وت چې نابېره د هوټل له ادارې غږ شو :
- د 320 خونې ښاغلی دې حساب تصفیه کړي.
- د 320 په اورېدو د ملا رنګ زیړ شو.
دستي یې ورغبرګه کړه:
- زه یم ، د څه شي حسابي ، له مېلمه چا حسابي غوښتې ؟
له مدیریته په بیړه ځواب ورکړ شو :
- د څښاک او فلم 300 ډالره.
د دې رقم په اورېدو مېلمه پال ژباړن حیران غوندې شو ، ژر یې وپوښتل:
- مولوي صاحب ! دا څه وایي ، څنګه شراب خو به دې نه وي ؟. مولوي ژیړ او سور شو ، خو بله چاره نه وه اعتراف یې وکړ.
- نوم یې مه اخله ، بس په خولې برغولی کېږده ، چې څوک درنه ګوره خبر نه شي ، د الله شرمنده ښه یم ، نه د اولس.
او بیا یې په حیرانۍ وپوښتل:
- دا نو دومره ګران دي ؟
مېلمه پال ورغبرګه کړه:

مولوي صاحب ! سل ډالره د بربنډ فلم دي ، دلته هر څه په پیسو دي.
ملا چې فکر یې کاوه ، هېڅوک ترې خبر نه دي ، نور هم له شرمه غړي سست شول، ناڅاپه یې له خولې ووتل:
- هم دین او هم دنیا ؟ خدای دې له دې حاله مسلمان ساتي.
بیا یې ورو د پطالنه جیب ته لاس کړ ، درې سل ګوني ډالري نوټونه یې ترې راکښل او په تلوار موټر ته په سیمینار کې د ګډون په موخه پورته شو.

سلواکیا ، براتسلاو
د 2004 میلادي کال د فبرورۍ 16

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قاتل په لټه

د نیمې شپې د دروازې ټک ټک نه یوازې له درانده خوبه راکېنولم ، بلکې ویره یې هم زما مله کړه ، په کراره مې له پوښتنې په ورو غږ کړ:
- څوک یاست ؟
- د دروازې تر شا ستومانه غږ واورېدل شو.
- وبخښئ ! دروازه پرانیزئ !
ما ډېر ژر دی وپېژاند ، په بیړه دروازې ته ورغلم او دروازه مې پرانېستله.
- سلام شو ستر ! په دې نیمه شپه کې ! خیریت خو به وي ؟
هغه له وعلیکم پرته په رېږدېدلي غږ ځواب راکړ:
- غواړم په یو چا خپل زړه سوړ کړم او سر یې پرې کړم.
د ده پرېکړې حیریان ، دریان کړم ، له خولې مې ژر ور ووتل:
- خیر دې وي ، څه خبره شوې ؟
ژر یې ځواب راکړ:
- په دې دې هله خبروم چې ډاډ راکړې ، چې دا کار دې له وسې څومره پوره دی ؟
زه موسک شوم.
- په ما دې ګومان راځي ، چې زه دې څوک ووژلی شم.
په ورو یې ځواب راکړ:
- زه نه وایم چې ته یې ووژنه ، خو څوک راته پیدا کړه. زما هیله او امید هم ته یې، دا راز یوازې له تا سره شریکوم. په دې چې ته مې د خپل شرقي او افغاني کلتور له مخې نشې محکومولی.
او سیلی یې وویست او خبره یې داسې وغزوله.
- دا ډمه ، بې وجدانه ?.
په خبرو کې ورولوېدم.
- څوک یادوې ؟ ولې څه یې کړې چې دومره یې پړسولی یې ؟
ویې ویل:
- زما ښځه ، دا تایوانۍ بیزو ، دا لولۍ ، له ما سره جوخته له خپل لونډ سره یوځای کالیفورنیا ته راورسېده ، او په همدې هوټل کې یې له خپل لونډ سره زما سره څنګ کې کوټه کرایه کړه.
بیا یې سوړ او سیلی وویست:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ای کاشکې ړومبیه عقله چې وروستی وای ؟ پوهېږې همدا یوه اونۍ د مخه مې د خپل ملکیت ( 70 ) برخه دې ته او ( 30 ) برخه د اولنۍ ښځې نه زېږېدلو زامنو ته په نامه کړه.
په خبرو کې ورولوېدم.
- نو ولې دې داسې بېړه وکړه ، ته خو لا ځوان یې ، داسې پریکړې خو هغه څوک کوي چې د ګور په غاړه ناست وي.
ځواب یې راکړ:
- میاشت وړاندې داکترانو راته وویل چې د زړه رنځ مې په بحراني حالت کې دی او هره شپه کېدای شي ، د قبر مېلمه شم. ما د دې لپاره چې له مړینې وروسته دا ډمه تایوانۍ له میراثه محرومه نه وي او د زامنو له شره مې ژغورلې وي ، دا کار وکړ او دې چې څنګه خپل کار وکړ ، یوه ثانیه یې هم ماته ونه کتل. اوس چې فکر کوم دې له هماغه د واده له پیله زما میراث ته سترګې پټې کړې وې.
په ډاډینه مې ورته وویل:
- زه خدای به هر څه اسانه کړي ، څه اوس بېده شه ، سبا به بیا په آرامه سره پرېکړه او مشوره وکړو.
خو وړاندیز پرې ښه ونه لګېد:
- تر سبا به زما زړه له قهره وچوي ، زه مې په زړه باور نه لرم ، غم یې لکه غر په ما ولاړ دی ، غواړم نن شپه دا هر څه سر ته ورسېږي او یا دې ډاډ راکړ شي.
بیا یې په کراره شان پسې اوږده کړه:
- زه د دې کار لپاره چې څومره ژر وشي ، چې څه لرم او نه لرم د ټولو ورکړې ته چمتو یم.
ما بیا سکون او آرام ته راوباله:
- څه خدای به هر څه اسان کړي ، په دې نیمه شپه کې په دومره بېړه دا کار ناشونی دی.
خو هغه لکه زما خبره چې نه وي اورېدلې - وویل:
- زه پوهېږم ، خو زه تر سل زرو ډالرو پورې همدا اوس د قاتل له سره قربانولی شم.
بیا بېرته د هغې په غیبت سر شو:
- دا لولۍ پوهېږې چې زه مرم ، څه آسمان به رالوېدلی وای چې زما تر مړینې یې صبر کړی وای ، بیا یې چې ټوله جرمني په ځان اچولی وای خپل کار یې و ، زه خو په ربښتیا د زړه رنځ لرم ، خو لا له زوره نه یم ولېدلی او په داسې حالت کې نه یم چې د دې ډمې د جنسي غریزې ځواب ونه وایم.
زه یې اندېښنو ته ځُرت وړی وم او نه پوهېدم چې په دې نیمه شپه کې یې څنګه مرستې ته وردانګلی شم ، په ورو مې بیا د غوږه ورتیره کړه:
- زه تا درکوم ، څه اوس پرېوزه ! سبا به داسې یو سړی په لاس درکړم.
په دې خبره له خوشالۍ وغوړېد ، ژر یې پوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه ډاډه اوسم ، سرونه به پرې شي.
بيا يې وويل:
- زه هم دې عمل ته تيار يم ، خو هسې نه چې رسوا شم او دوی راڅخه دمخه شي.
ما بيا ډاډ ورکړ:
- ځه بې غمه اوسه !
له دې شېبې وروسته مې د قاتل په لټون شروع وکړه ، خو په امريکا کې داسې کسان چې يا ما او يا زما دوستانو پېژندل ، يا خو بنديان او يا هم نادرکه شوي وو.
شوستر شپه او ورځ او هره ګړۍ زما کوټې ته د دې معاملې له پاره ته او راته ، په څلورمه ورځ له جرمني داسې يو قاتل راورسېد ، له هوايي ډګره سيده د شوستر کوټې ته ورغلو:
شوستر زموږ په ليدو وغوړېد او پرته له دې چې قاتل ته د روغبړ له پاره لاس ورکړي او يا ترې د قتل بيه وپوښتي ، سمدلاسه يې خپل د بپلومات ته لاس کړ او له ما سره راغلي قاتل ته يې وويل:
- ما ده ته د ( 50 ) زرو ډالرو ويلي ، خو زه درته له لکو زيات چک لاسليک کوم ، دا ټول له تا قربان. بيا يې په ورو بکس پرانېست او موجود ډالر يې زموږ سترګو ته ونيول.
- اوس مو باور راځي او که نه ؟
خو د مخه تر دې چې د ډالرو بکس پرانيزي ، په رېږدېدلي غږ يې له راغلي کس وپوښتل:
- څه وخت دا زېری راباندې کولی شې ؟
قاتل دستي ځواب ورکړ:
- همدا نن شپه.
د شوستر په سترګو کې د خوشالۍ اوښکې په نڅا شوې.
- رښتيا !
قاتل ځواب ورکړ:
- ډاډه اوسه ! په همدې مېز يې سرونه رانه وغواړه.
شوستر بيا هم وپوښت:
- دا امکان لري ، ته دومره ماهر يې !؟
قاتل ځواب ورکړ:
- بې غمه اوسه !
شوستر په دې ډاډ په بيړه د پيسو بکس بيا پرانېست او په شمار شميرلي د(100 ) زريزو ډالرو بسته د هغه په ګوتو کې کېښوده.
بيا يې ورو شان وپوښت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بس دی ؟

قاتل حیران شو :

- څه چې ستا خوښه وي.

شوستر وویل:

- زما خو ټوله هستي له تا قربان ده.

قاتل هم بیا ډاډ ورکړ:

- زه به هم په ټول قهر سره دا سرونه قلم کړم.

شوستر له خوښۍ وغوړېد :

- بس چې سرونه ووینم ، نور انعامونه دې هم خپل دي.

بیا یې د وروستي ځل له پاره قاتل وپوښت:

- بس زه د دې سرونو د لیدلو په خوبونو کې ویده شم.

قاتل ځواب ورکړ:

- ډاډه اوسه ! دا خوب نه رښتیا دي.

شوستر غیرارادي چیغه کړه:

- ته رښتیا وایې ؟ بیا یې قلم راواخېست او ویې ویل:

- دا دی زه د ( 50000 ) بل چک هم لاسلیک کوم ، خو په چک یې قلم نه و راکښلی چې نابېره په مځکه راولوېد او چې موڅو پام کېده بیا یې په خوله کې ځګونه راغلل او سترګې یې د تل له پاره پټې شوې.

براتسلاو ، سلواکیا

د 2004 میلادي کال د مارچ 20

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګناه او سزا

- نن باید دا غلا معلومه شي ، غل یې باید په سزا ورسول شي. زه نو نورې دا سې ګډوډۍ نشم زغملی. میز یې په زوره ووا هه او بیا یې په لوړ غږ پسې زیاته کړه.
- پوهېږئ !؟ زه دلته څومره زور او اعتبار لرم ، تاسې زما په زور نه یاست خبر. توبه !له کبره ، هر څه مې په وس پوره دي ، په پارلمان کې ، په کابینه کې او خپله صدراعظم هرچېرې لاس په نامه اشنایان لرم. د دې ښار د پولیسو مشر مې همدا پرون مېلمه و ، زه به په دې غله خپل زړه خامخا تشوم. دا نمک حرامه !
د ناستو کسانو لویې برخې یې په ملاتړ په یوه اواز وویل:
- نمک حرامه.
بیا د ادارې مشر په لوړ غږ ګواښ وکړ:
- دا سړی باید را په ګوته کړئ ، که نه ټول د مخې کډې وتړئ !
یوه تن په کراره شان پوښتنه وکړه:
- صاحب !د وچو له غمه لامده څنګه سیزئ ؟
رئیس په غوسې سره ځواب ورکړ:
- چې دا سې ده ، نو ولې سړی نه راښیئ !؟ غواړم چې ځان او ټوله اداره یې له شره خلاص کړم. نن یې له دفتره د فکس ماشین پټ کړ ، سبا ستاسو جیبونه هم وهلی شي. دا بې وجدانه نه چې ګوښه ، بلکې نېغ باید زندان ته وا ستول شي ، دا ځل به په هېڅ زړه ونه سوزوم هېڅکله.
رئیس څو ځلې "هېڅکله" تکرار کړه او بیا یې ناست کسان مخاطب کړل:
- نن له تاسو یو کس باید چې زندان ته لاړ شي.
وروسته یې په سړه سینه وویل:
- دا به ډېره ښه وي چې سړی راوښیئ ، زه ډېر وخت نه لرم ځکه چې وزیراعلی یو ډېر مهم ملاقات ته غوښتی یم.
ناستو کسانو یوه بل ته وکتل ، او ټولو دې ته سترګې لکې ونیوې چې څوک به د ادارې مشر ته د غله نوم په خوله وا خلي.
د ټولو له وېرې سرونه ځوړند وو او د هر یوه په خوله د سکوت مهر لګېدلی و ، خو رئیس بیا په غوسې خپله ګواښنه ورغبرګه کړه:
- زه د چا په کیسه کې نه یم ، که سړی راونه ښیئ ، ټول سر له اوسه له ادارې سره مخه ښه وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم چا غږ ونه کړ.
ده نابېره چیغه کړه:
- څنګه ! پوهېږئ څه وایم ؟
دا ځل د مجلې مسوول مدیر چوپتیا ماته کړه.
- صیب ! په ډېر ادب ! غواړم ووایم ، چې دا که تا ته نږدې کس هم وي.
رئیس په غرور ورغبرګه کړه:
- که زما زوی هم وي.
د مجلې مدیر په ورو شان وویل:
- دا سړی ټول پېژني.
رئیس په حیرانتیا پوښتنه وکړه.
- نو ولې پرې برغولی ږدئ ؟ ما خو وویل که په ما مو هم شک راځي. دموکراسي او عدالت خو همدې ته وایي.
نور نو د مجلې مسوول مدیر ټینګ نه شو ، په ورو یې له خولې ووتل:
صاحب ! دا ستاسو مشر زوم جمال دی او موږ هم ستا له بل زوم اداري رئیس اګاه شو .
رئیس په بېړه خپل زوم چې د ریاست اداري رئیس و ، مخاطب کړ:
- دا نو د پټولو خبره ده ، که له ما شرمېدې ، خوابښې ته به دې ویلی وای ، د کور خبره دې دفتر ته راوړه.
د ده خبرې لا بشپړې نه وې چې تورن زوم یې د خبرو منځ ته ورولوېد او په احساساتي بڼه یې خوله راخلاصه کړه:
- رئیس صاحب ! ته پوهېږې ، که زه او یا زما کورنۍ داسې غله وای ، نو لور دې راکوله !؟ ما غلا نه ، بلکې د بې عدالتۍ او نابرابرۍ په وړاندې یو عکس العمل ښودلی ، ما له دفتره یوازې د فکس ماشین نه ، ټیپ ، کمره او نور شیان هم وړي ؟. ما قصدي غوښتي ، چې دا خبره او دا بې عدالتي منځته راواچوله شي.
رئیس د خبرو منځته ژر ورولوېد :
- شاه بس ! آفرین ! زه باجرئته کسان خوښوم.
ووایه ! څه بې عدالتۍ رانه سر وهلې ؟
تورن زوم دستي ورغبرګه کړه:
- صاحب ! زه دې له بل زوم مه څه کمی لرم ، هم په عمر ، هم په تجربه او هم په تحصیل په هر څه پرې جګ یم ، خو په امتیاز کې ترې بیا ټیټ ، معاش مې ټیټ، منصب مې ټیټ او ؟.
رئیس یې خبره دستي پرې کړه:
- بس پوه شوم ، شاه باس ! زه دا اعتراض وارد بولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس سر له نن نه ته د هغه پرځای اداري رئیس شوې. بل زوم یې د اعتراض په بڼه له ځایه پورته شو.
-صاحب !رئیس صاحب !دا زما د حیثیت مساله ده.
رئیس وخندل:
-خوشاله اوسه ! په دومره لږه سزا ! چې په یاد دې وي ، بیا بل ځل د کور خبره دفتر ته رانه وړې.
زوم یې غوښتل وضاحت وغواړي.
خو رئیس غلی کړ:
-بس کېنه !
بیا یې تورن زوم ته مخ وروا ړاوه:
-دا چې اوس ته اداري رئیس شوې ، د مجلې د مدیر ټول اسناد په لاس ورکړه چې بیا یې دلته ونه ګورم.
د مجلې مدیر خواشینی له ځایه پورته او په حیرانتیا یې وپوښتل:
-ولې رئیس صاحب څه مې کړي ؟
رئیس ناڅاپه خندا ونیو.
-نور څه وکړې ؟زموږ د کور خبره او زموږ د اداري دننه خبره نشې بیلولی. دا خبره دې راته بل ځای
خصوصي نه شوه ویلای ؟
ما خو ویل چې نن به یو څوک له دفتره زندان ته لېږم ، خو همدومره سزا دې بس ده له زندانه دې تېر یم.
د مجلې مدیر غوښتل نور څه هم ووایي ، خو رئیس په بیړه د ناستې پای اعلان کړه او په چابکو قدمو د
خپل موټر په لور وخوځېد.

براتسلاو - سلواکیا
د 2003 د سپمتبر 12

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځېرې او کارنامې

دا موزیم د مشورو کسانو د څېرو په نامه شهرت لري ، ملا عبدالباقي سر وښوراوه:
- ښه !
او بیا یې مېلمه پال وپوښت:
- مشهور کسان لکه پاچایان او د ملکونو مشران !؟
مېلمه پال ژر ځواب ورکړ:
- نه دلته عادي کسان هم شته ، هر هغه څوک چې په کوم څه کې یې ریکارډ ټینګ کړی وي.
ملا چې د لومړي ځل لپاره یې د ریکارډ کلمه واورېده په حیرانتیا یې پوښتنه وکړه:
ریکارډ یې لا څه ته وایې ؟
مېلمه پال دستي ځواب ورکړ:
- داسې کار یې کړی وي چې هم حیرانوونکی او هم په ټوله نړۍ کې بل چا نه وي ترسره کړی.
د ملا سر خلاص نه شو ، ځکه یې بیا وضاحت وغوښت:
- سر مې پوره خلاص نه شو .
مېلمه پال ریکارډ په تفصیل تشریح کړ:
- لکه له ټولو زیات اوږده بریتونه ولري ، ږیره یې بې سارې اوږده وي ، نوکان یې له مترو واوړي ، یا تر ټولو اوږد عمر ولري. په هر شي کې یې چې په نړۍ کې سیال او مخی نه وي ، هغې ته د ریکارډ لرونکی وایې.
ملا او مېلمه پال دا خبرې کولې چې نا ببره د ملا سترګې د لینن په څېره ولګېدې، له خولې یې په حیرانتیا ووتل:
- دا ملحد نو دلته څه کوي ، تاسې انګرېزان هم عجیبه قام یاست ! هلته مو موږ ته د ده موریدان په غېږ راوستي ، زموږ شا راډبوئ او دلته یې نبغ په موزیمونو کې راځوړندوئ.
مېلمه پال ژر ورغبرګه کړه:
- دلته یوازې د سیاست پهلوانان نه ، بلکې د مذهب او روحانیت ستر استازي هم وجود لري.
دستي یې یوې څېرې ته ګوته ونیوه:
- دا پېژنې ؟
ملا چې ځنګه څېرې ته ځیر شو ، ژر یې ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا څوک نه پېژني ، دا خو خُميني دی که نه ؟
بيا يې مېلمه پال ته مخ راواړاوه.
- څنګه يې موږ هېر کړي يو ، ولې زموږ وطن خو هم له وليانو او غازيانو ډک دی.
مېلمه پال وخندل او په خندا يې ځواب ورکړ:
- غم مه کوه ! خپل وطندار به هم وګورې.
ملا دستي په خبرو کې ورولوېد او پوښتنه يې وکړه:
- بس دغه خبرې کوه ، نه چې موږ مو هېر کړي يو ، هسې خو زموږ ټول وطنداران بايد دلته راځوړند وای ، دې لوی خوګ سره کوم بل نر غير له موږه افغانانو په غېږه ورتلای شي.
مېلمه پال وخندل:
- يره قوماندان صاحب ! رښتيا وايې ، خو دلته له ټولو زيات د مشهورو کسانو ځای دی.
ملا ته پوښتنه راولاړه شوه.
- تاسې وويل ښه او خراب دواړه ؟
مېلمه پال ځواب ورکړ:
- هو چې په خپل عمل کې بېساري وي.
ملا وويل:
- چې داسې ده ، کارمل به هم په کومه څنډه کې راځوړند وي.
دوی په ورو ، ورو قدمونه اخېستل او يو په بل پسې يې د تصويرونو ننداره کوله چې د ملا له خولې نابېره چيغه شوه:
- يا رب العالمينه ! له قدرتونو دې ځار شم ، دا خو زه هم دلته راځوړند يم.
بيا له حيرانتيا هک پک شو:
- دا څنګه سر مې خلاص نه شو . له ما خو ډېر لوی ، لوی قوماندانان شته چې تر ټولې دنيا

تللي او څو ځلې ستاسې مشرې او د امريکا مشرانو مېلمانه کړي. مېلمه پال ځواب ورکړ:
- خو ريکارډ يو ازې تا ټينګ کړی.
ملا حيران شو:
- څنګه ؟
- ستا په لاس او امر چې څومره خلک وژل شوي ، د نړۍ هېڅ جلاد يې په نن سبا کې سيال نه دی.
ملا وويل:
- خو ما بې ګناه خلک نه دي وژلي ، ګوره چې پام دې وي دې خبرې ته ، هغه هر يو يا عسکر ، يا مامور سازماني يا حزبي و او يا هم دوی ته قريب څوک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېلمه پال وويل:
- چې هر څوک وو ، دا يوه خبره او دا چې څرنګه او په کومه بڼه ؟
ملا په خبرو کې ورولوېد :
- په دې هم خبر ياست چې څنګه مې وژلي ؟
مېلمه پال وويل:
- په هر څه ، دلته ان دا ارقام هم شته چې څو تنه مو په توپ الوځولي ، په څو تنو مو چاړه راکښلې او څومره مو په ټوپک وېشتلي ؟
ملا حيران شو :
- دا څه وايې ؟ تاسو ته دا ټولې شمېرې معلومې دي.
مېلمه پال پاس څېرې ته وکتل او ملا ته يې کړل:
- وګورئ ! پاس د څېرې لاندې هر څه شته ، تاسو يوازې د دې کال په جريان کې 3500 کسان له تېغه تېر کړي. دومره قتلونه په نړيوالو جګړو کې هم يوه تن په خپل لاس نه دي ترسره کړي.
ملا استدلال وکړ:
- خود چې داسې ونه کړو ، په بل شان ستاسو او زموږ دا ګډ دښمن راپرزېدی شي؟
بيا يې په ورو له خولې ووتل:
- رښتيا وايې چې د زړو قدر په زرګر وي. تاسې مې په قدر هغه دی پوهېږئ ، خو خپل وطنداران او خپل د جهاد ملګري څه څه راپسې نه وايې !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصویرونه تقدیرونه

پوره درې میاشتې کېدې چې یو له بله سره یې د دهلیز له هېنداړو نه سترګې جنګولې او د سترګو په هر جنګ کې د مینې په خواږه او نازک تار سره تړل کېدل او د یوه بل زړه ته یې لار موندله.

خو یوازې نن یې د نږدې وصال ارمان پرځای کړ. او مازې د هغې په یوې اشارې یې د دې غېږې ته ځان ورساوه او د هغې د پستو شونډو د چینې په رودلو شو. بیا یې په ورو د هغې له ګلابي غومبورو ګرمې مچې واخیستې.

مازې په یوه وړه اشاره ، لکه د باد په څېر وروالوت ، پرته له دې چې فکر وکړي چې له هغې سره د وصال لاره له څومره ګواښونو او کړلېچونو ډکه ده او کېدای شي دا سودا ورته د سر په بیه پرېوزي. خو زړه ته یې هېڅ وېرې لار ونه کړه او نېغ د سترګو په رپ کې ورورسېد. په بیړه په دروازه ورننوت او سم له لاسه یې د زلمیتوب په ټول زور له هغې لاسونه راتاو کړل ، لومړی یې د شونډو په رودلو او بیا یې په ورو د هغې د کمیسه تڼۍ ته ګوتې وروړې ، له شېدو ډکو د سپینو تیانو په څُم کې یې ځان ورواچاوه.

خورا خوند یې ورکړ او په درنګ شېبه کې د هغې د ښکلا وږمو پسې واخیست هر څه ترې هېر شول:

- چېرته دی !؟ څه کوي !؟ او که څوک ورباندې پوه شي څه به وشي !؟

خو په ټولو یې تېره واړوله او هېڅ اند ښېښنې ته یې زړه کې ځای ورنه کړ او هماغسې یې د هغې له سپینو او کلکو تیانو خوند اخیست. کله کله به یې په ورو د هغې اوږدو زلفو ته لاسونه ورتېر کړل او د تسپو په څېر به یې دانه ، دانه واړول راواړول ، بیا به یې د هغو په چتر کې خپل سر ورننیست.

د وروستي ځل له پاره چې یې هغه په غېږ کې ټینګه نیوله ، نابېره وخویید ونه لوېده خو تاو راتاو شو او زمکې ته له ټیټېدو سره یې له جیبه یو تصویر راولوېد.

د تصویر په لیدو یې محبوبې سخت ټکان وخوړ په قهر یې وپوښتل:

دا څوک دی ؟

په بیړه او سړه سینه یې ځواب ورکړ:

دا نه پېژنې ؟ د ده تصویرونو خو ټول ملک نیولی ، آمر صاحب دی که نه ؟

او بیا په تمجید او تعریف سر شو:

دا خو ډېر لوی انسان دی.

خو هغې په داسې حال کې چې په بیړه یې له ده واټن نیوه ، دی نورو خبرو ته پرېښنښود. په ملنډو یې وویل:

- لوی انسان !؟ ستا له پلار او موره هم ؟

ده په بیړه ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زما پلار او مور به ما ته؟ خو دی د ټول افغانستان ؟.
هغه ژر په خبرو کې ورولوېدله.
- بس ، بس.
له غوسې سره شوه او له ډېرې کرکې او غضبه يې په تصوير لاړې تو کړې ، بيا يې لکه يو پوځي افسر امر وکړ:
- ووځه ! چې بيا دې ونه وينم !
دی په بيړه له کوره راووت ، په زړه کې يې بلا ډېرې پوښتنې په راټوکېدو شوې:
- دا به کومه حزبي يا سازماني وه ؟کمونېسته به وه ، پلار به يې د آمر صاحب سرو ځورولی وي ، يا به يې د آمر صاحب په جګړو کې کور نړېدلی وي ، يا به په خپله چا ځورولې وي !؟
دا چې هر څوک وه ، خو د ده لومړنۍ مينه وه ، په ځان يې بلا لعنتونه وويل ، بيا يې له غوسې عکس ځيرې ؟ ځيرې کړ ، خو ژر يې بيرته بل احساس مل شو :
- شکر خدايه ! هر څه چې وو ، په خير تېر شول ، که رسوا شوی وای هم به د دنيا او هم به د خدای تعالی شرمنده وای.

خو چې بېرته يې د هغې جادويي ښکلا په زړه شوه ، د آمر ګرانښت او درنښت يې هېر شو او هغه به لکه سيوری ورسره سم روانه شوه.
دی په همدې سوداګانو او چُرتونو کې په منډه د زړو مکرويانو هغه بلاک ته راورسېد چې يې کور و ، خو لا يې د زينې اخري پوړ کې قدم نه و ايښی چې نابېره پرې غږ شو :
- چېرته وې ؟
دې غږ لکه اسماني تندر وبيراوه ، دا يې د مشرورور غږ و ، چې له پيله تر پايه يې څارلی و.
په وارخطايي يې ځواب ورکړ:
- هسې پورې بلاک ?
نور يې نو بانه نه جوړېده ، په ژبه کې يې لاړې وچې شوې ، نه پوهېده ، څنګه يې ځواب کړي ، خو ورور يې چوپتيا ماته کړه.
- ما نه شې تېر ابستلی.
بيا يې هم ځان ناګاره واچاوه.
ولې څه خبره ده !؟
- څنګه څه خبره ده ؟ د هغې نجلۍ کور کې دې څه کول !؟
بيا يې هم اعتراف ونه کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کومه نجلۍ !؟
ورور یې وخندل !
- ځه مه شرمېږه !
بیا یې دا متل ورته تېر کړ:
- ځواني یوه نشه وي ، داسې نه چې همېشه وي.
په سرِه سینه یې ورور خبره وغزوله:
- د ګناه خبرې یوې خوا ته ؟ که چا ورسره نیولې وای !؟
ده دستي اقرار وکړ:
بس څه یې کوې لالا ؟ یو بد وو رانه وشول.
ورور یې وپوښتل:
له څه وخت راهیسې دا نجلۍ پېژنې ؟
ځواب یې ورکړ:
دوه درې میاشتې مو له همدې ځایه سترګې جنګولې.
ورور یې وخندل.
او له همدې ځایه مو سره اشارې کولې.
ځواب یې ورکړ:
- هو !
؟ دا اول ځل و چې له هغې دې لاسونه راتاو کړل.
په سپین سترګۍ یې ځواب ورکړ:
هو ، لالا !
ورور یې لکه همتهو لګیوال ، لکه همزولی ورسره خواله پیل کړه:
ښه ، ښه ځه مه شرمېږه ، نو اخر ؟ بیا ؟
نابیره یې له خولې ووتل:
ناکامه راغلم . له کوره یې راوشړلم.
ورور یې پوښتنه وکړه:
ولې !؟
ځواب یې ورکړ:
هسې کومه حزبۍ به وه ، یا سازمانۍ به وه.
ورور یې بیا موسک شو:
اصلي حال وو ایه ، مه شرمېږه ! څه ګلونو ته دې اوبه ورکړې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې اختیاره یې له خولې ووتل:
د آمر صاحب عکس خدای بانه کړ.
ورور یې په حیرانتیا وپوښتل:
د آمر صاحب عکس !؟
ده ځواب ورکړ:
هو ، لالا !د آمر صاحب عکس.
ورور یې اوږد او سېلی وکړاو بیا د تېرو یادونو په ځُرت کې لاهو شو.
خو ده یې ژر د یادونو لړۍ پرې کړه.
ولې لالا !ځنګه ځُرتي شوې ؟
ورور یې لکه له خوبه چې راکښېني ، دستي ځواب ورکړ:
زه هم همدا سې یو آمر له لومړنۍ مینې محروم کړم.
بیا یې ورور مخ ورواړاوه او د دوهم ځل له پاره یې ترې وپوښتل:
او د هغه د تصویر له لیدو وروسته یې له کوره راووېستې !
ځواب یې ورکړ:
هو !ته ځنګه پوه شوې ؟
ورور یې وخندل:
زه علم غیب لرم.
ده په حیرانتیا اقرار وکړ:
ولا !لالا ، له تا نه یې څه پټوم ، که د آمر صاحب تصویر یې را سره نه وای لیدلی ؟ خبره خلاصه وه.
او بیا د هغې د ښکلا د انځورونو په کښلو سر شو :
- یره لکه په خپل قلم چې خدای جوړه کړې وي ؟
ورور یې د ده بې شرمه اعتراف ته حیران شو ، خو ژر خپلو یادونو پسې بیرته واخېست.
زه هم د همدا سې یوه آمر تصویر ستا په څېر له لومړنۍ مینې محروم کړم.
ده ترې وپوښتل:
ته !؟
ورور یې ژر ځواب ورکړ:
- هو ، زه هم خو زما او ستا توپیر دا دی چې ته د یوې سیمې آمر او یوه وزیر او زه د ټول افغانستان د وخت امیر.
بیا یې په خواږه او شاعرانه ډول خپله کیسه او یاد داسې وغزاوه:
- زه هم همدا ستا په څېر په هماغه مخامخ بلاک کې په څلورم پوړ کې په یوې ښابسته کابلۍ مین وم ، هر مازیګر به مو سترګې جنګولې او د مینې په ټالونو کې به مو یو بل ته ځان رساوه ، یوه ورځ یې ستا په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لاس په اشاره ځان ته وبللم او زه هم ستا په څېر سر په لاس لکه د باد په څېر ورو الوتم او ستا په څېر مې زړه ته رانژدې ټینګه په غېږ کې ونیوله ، خو له تا عکس لاندې ولوېد او زما جیب ته ناببره د هغې لاس ورغی او د هغه وخت د آمر عکس یې ترې راوویست.

-او خدایه ! د هغې کرکې څرګندونه مې اوس هم نه هېرېږي ، چې دغې نجلۍ د عکس په وړاندې او بیا یې زما په وړاندې وښوده او څه په کرکه یې له کوره راوشړلم. زما او ستا بل توپیر دا دی چې ته د یوې لارې د آمر او زه د بلې لارې د آمر مرید وم. زما آمر د هغه وخت د ټول هېواد آمر و ، خو ستا آمر یوازې د یوې چارې مسوول دی ، نه د ټول حکومت او دولت.

دی زر په خبره کې ورولوېد :

هغه د یوې سیمې او یوې چارې وزیر دی ، خو عکسونه یې په ټول افغانستان کې خواره دي.

بیا یې له وروره پوښتنه وکړه:

که هغه دومره لوی سړی نه وي ، ولې لوی آمر ترې ډاریږي ؟

ورور یې د ده لیونۍ پوښتنې حیران کړ:

څوک ترې ډارېږي او څوک یې نه پېژني ، د خبرې ټوله معما همدا ده او هلته چې ته لا ماشوم وې ، هم واقعیت همدا شان و.

بیا یې په سړه سینه وویل:

خو سر مه خوږوه ، په همدې شکر وباسه ! د آمر عکس یوازې د یوې حسینې له مینې ، لوربینې او په خوږه غېږ کې د خوار‌ه خوبه راپاڅولی یې ، که د عکسونو په پرستش دې له سره فکر ونه کړي ، ښایي له دې ډېر لوی تاوان دروا وړي.

بیا یې خپله پښه لوځه کړه:

ګوره ! لکه زه ؟ چې یوازې تشو تصویرونو له پښې محروم کړم ، زما په څېر په زرګونو یې له سرونو ؟.

بیا یې پورته غونډۍ ته لاس ونیوه.

او همدې تصویرونو هاغسې هدیرې جوړې کړي ،

بیا یې په کراره له لاسه راونیو.

راځه سر دې مه خوږوه ، څه چې کور ته ځو.

څنګه چې کور ته ننوتل ، په تلوېزیون د صدام حسین تصویرونه مجسمې او لوی لوی یادګارونه تېرېدل راتېرېدل چا تصویرونه څیرل او چا مجسمې نړولې.

ورور یې په ورو خوله ورنږدې کړه:

دا عراقیان هم ما او تا په څېر وو. ګوره نن چې صدام نه شته ، داسې تصویرونه څیرې کېږي او داسې مجسمې نړېږي ، خو دی احساساتي شو:

دا خو امریکایان کوي.

ورور یې وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړ او قدرمن تصویرونه هېڅوک نه شي خیرلی او وړ او ګران شخصیتونه ګوره هېڅ وخت په خپل ژوند خپله نمانځنه نه شي زغملی.
بیا یې ورور په ورو له خپلې کوچنۍ کتابخانې یو تاریخ راواخېست او په ورو یې څو پاڼې پرله پسې راواړولې.
دا وینې ! دا موسولیني ، دا بل هېټلر دا دریېمه پاڼه ستالین.
دا ټول یو وخت د دې خلکو بُتان وو ، خو نن ؟
دی ژر په خبره کې ورولوېد :
خو نن څنګه ؟
په بیړه یې ځواب ورکړ:
نن یوازې د تاریخ یادګارونه دي.
بیا یې ورور له ده وپوښتل:
څه فکر کوې ، د دوی ټولو پرستش کوونکو ته د دې شخصیتونو لاره معلومه وه؟
ناځوابه شو :
څه پوهېږم ؟
ورور یې بیا پوښتنه وکړه:
او ته پوهېږې ستا د آمر په ټولو فکرونو او اندونو ؟
ده د ځواب په ځای له ده وپوښتل:
تا ته هم د خپل آمر ټوله لاره نه وه څرګنده کنه ؟
ورور یې وخندل:
زه څه چې آمر مې هم په خپل لار چې چېرې ځي نه و خبر ، خو زه ځوان وم او هغه په عمر پوخ.
بیا یې د وروستي ځل لپاره له ده وپوښتل:
سر دې اوس خلاص شو ؟
ځواب یې ورکړ:
هو ! خو پوره نه.
ورور یې موسکی شو :
سر به دې هله خلاص شي چې له سره خلاص شې ، خو بیا به او به له ورخه تېرې وي.

براتسلاو ، سلواکیا
د 2003 دسمبر 23

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلمه

- بهادرخانه !دا د کافر لورانې خو سړې سيزي.
بهادرخان د زمان ګل په دې خبره نابېره ټکان وخوړ او خورا حيران دريان شو ، بيا يې په شونډو د حيرانتيا موسکا په څپو راغله:
- دا څه وايې ، قوماندان صاحب !که موږ هر څه کوو ، هسې هم ستاسو په حساب د سوچه مسلمانانو له قطاره وتلي يو ، په تاسو څنګه نن شيطان غلبه وکړه ؟
زمان ګل په بيړه ځواب ورکړ:
- بهادرخانه ! څه مې زړه مې راسپړې ، دې ته ولاکه د چا نيکه هم ټينګ شي ، نه ګورې هره يوه خدای لکه په خپل قلم چې رسم کړې وي.
بهادرخان ژر په خبرو کې ورولويد :
- نو تاسو خو درې نکاح ښکلې وطن کې پريښې !
زمان ګل په منډه ځواب ورکړ:
- ته رښتيا وايې ، د طالبانو دې انصاف روزي شي ، که نه وای راغلی ، چېرې دې د کفر ملک ته راتلم ، سمه دمه پاچاهي مې وه . دريمه ښځه مې کابلۍ او مکتبۍ ده ، کله چې مجاهدينو پاچاهي ونيوه په هماغو ورځو کې مې راواده کړه.
بهادرخان بيا وپوښت:
- دا توره ښايسته ږيره ؟او دا خبرې ، قوماندان صاحب ، دا خلک به څه وايي؟
زمان ګل وويل:
- ته په حقه يې ، بهادرخانه !ته دا وايې ، ما په تشو ښځينه عکسونو په کابل کې په دومره خلکو لښتې ماتې کړي ، چې څه يې کوې ؟ خو ؟
بيا څه ټکنی غوندې شو ، خو بهادرخان پرې نه ښود ، او ژر يې وپوښت:
- نو خو يې په څه کې ده ؟
زمان ګل موسکی شو :
خو يې دا ده بهادرخانه چې ملا عمر هم دلته راولې ولاکه دې نجونو ته تاب راوړي، که سپينه راباندې ووايي ، د دوې له لاسه هره شپه راباندې غسل اوړي.
بهادرخان ته په دې خبره خندا ورغله ، وروسته يې غوښتل څه وو ايي خو زمان ګل ترې ړومبی شو :
- بس څه يې کوې بهادرخانه !هسې هم د خدای ګنهکاران يو ، له دې مې زيات خراب کارونه کړي ، خدای دې راته عفو وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهادرخان په خبرو کې ورولوید :
- نو څه غواړې امر وکړه ، قوماندان صاحب !
د زمان ګل ځُرت په دې خبره خورا جوړ شو .
- بس دغه خبره کوه ، داسې وکړه چې په یوې شین سترګې مې ووله !
بهادرخان وویل :
- دا خو نو یو څه لګښت غواړي .
زمان ګل ژر ځواب ورکړ :
- د لګښت په کیسه کې مه اوسه ! خو یو دوه لوټه به وي نو څه .
بهادرخان وویل :
- بس اوس (100) سل ډالره هم بس دي .
زمان ګل ژر جیب ته لاس کړ :
- واخله ! درې لوټه دې له سره ځار .
بهادرخان وویل :
- بس زه هم همدا اوس خپلې ملګرې ته وایم چې کومه ملګرې له ځانه سره راولي .
زمان ګل وخندل :
- چې ښایسته وي ، ګوره ! هسې بیزو میزو نه وي ګوره !
بهادرخان ته هم خندا ورغله او ډاډ یې ورکړ .
- بې غمه اوسه ، دلته کله بدرنګه نجونې شته .
زمان ګل وویل :
- بس نو په ور بسم الله کړه ، چې ځنګه دې خوښه وي هماغسې وکړه ، که لوټونه کم شول ، بیا راغږ کړه ، بس چې ټوله مغازه هم اخلي ، له سر یې جار .
بهادرخان وویل :
- بس زه ځم ، بېګاه ته به ښه میز جوړ کړو ، خو یوه پلمه باید ولرو .
زمان ګل په بیړه پلمه جوړه کړه .
- بس ورته ووایه چې زما کالیزه ده .
بهادرخان وخندل او په بیړه د ښار د لویې مغازې په لور وخوځېد . زمان ګل ته یې مخ ور واړاوه او ترې وغوښتل :
- بس ته ځه کور ته ! زه هر څه له ځانه سره در وړم ، چې ښه ښایسته پخلی وکړو .
بهادرخان څو قدمه وړاندې نه و تللی چې ودرېد او له لیرې یې زمان ګل ته غږ کړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قوماندان صاحب !
دا شراب مراب به څنګه شي ؟
زمان ګل حيران شو :
- ولې !؟
بهادرخان وويل :
- بې له دې شيګڼې نجونې يارانې ته ښه نه راضي کېږي.
زمان ګل ژر ځواب ورکړ :
- ځه ! څه يې کوې ، څنګه چې دې خوښه وي ، چې هغه بله لويه ګناه کوو ، دا يې پرې له پاسه ! خدای دې راته عفوه وکړي.
*** *** ***
ماښامنۍ ميلمستيا جوړه شوه ، زمان ګل او بهادرخان دواړو هر يو له راغليو نجونو لاسونه تاو کړل او بيا د ماښامنۍ په خوړلو شول. د زمان ګل ملګرې زمان ګل ته څه وويل ، خو زمان ګل په روسيې نه پوهېده. له بهادرخان نه يې مرسته وغوښته:
- بهادرخانه دا څه وايي ؟
بهادرخان د هغې خبره په بيړه وژباړله.
- قوماندان صاحب ! دا وايي چې ډېر ښکلی يې.
زمان ګل ځان ته غره شو :
- ورته ووايه چې ستا سترګې ښکلې دي.
بيا نجلۍ د شرابو پياله ډکه کړه او زمان ګل ته يې ونيوله ، بهادرخان وويل:
- قوماندان صاحب ! ناتاشا وايي چې شراب ورسره وڅکئ.
زمان ګل وشرمېد :
- او که دا کار ونه کړم.
بهادرخان ځواب ورکړ :
- ناتاشا وايي چې خفه کېږم.
بهادرخان وخندل.
- بس ورته ووايه چې تا دې خدای هېڅکله نه خفه کوي.
او بيا يې په بيړه له هغې سره جام پورته کړ ، زمان ګل ته شرابو خورا خوند ورکړ ، او د نشې په منځ کې يې وويل:
- يره دا د کافر شی خو بلا شی دی ؟ بس انسان سم دم زمری کړی ، له نجلۍ سره يارانه خو رښتيا له همدې شي سره خوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ناتاشا له لاسه راونیو . موزیک او ساز یې لړلو ړ کړ ، خو زمان ګل بهادرخان ته وویل:
- بس ورته وو ایه ، چې زما دا نخرې نه دي زده ، ته دا راوښایه او زه به سم دم کوچانی اتڼ.
او بیا څلورواړه تر ناوخته تاو راتاو شول.
ناتاشا وروسته بله پوښتنه د زمان ګل مخې ته کېښوده.
بهادرخان یې ژر وړاندیز وژباړه:
- قوماندان صاحب ! ناتاشا وايي چې ږیره که وخریيي.
زمان ګل حیران شو:
- ورته وو ایه ، دا به یو بل وخت وکړم ، اوس دې ترې تیره شي ، خو لږ وروسته ژر راضي شو.
او پرته له دې چې د هو ځواب ورکړي ، په منډه تشناب ته لاړ او په دم ګړۍ کې خریيلې ږیره بېرته راوګرځېد ، له ناتاشا یې غېږ تاو کړه ، د هغې د شونډو په رودلو شو او پر له پسې

یې د شرابو له جامونو هم غړپونه پیل کړل او چې ښه پوره یې په شرابو ځان ولمباوه ، نو د بې خودۍ په عالم کې له ځانه سره داسې په خبرو راغی !
- بهادرخانه ! ناتاشا ته وو ایه !
بهادرخان ژر وپوښت:
- څه ؟
زمان ګل په خبرو ورګډ شو .
- ورته وو ایه ما وبخښي چې له دوې سره مې جهاد کړی.
بیا یې له ده وپوښتل:
- ته او خدای په دې خلکو جهاد روا و ؟
د بهادرخان هم شراب سر ته ختلي وو ، خو هوش یې له لاسه نه و ورکړی زمان ګل ته یې ځواب ورکړ:
- له سیاست نه تیر شه ! قوماندان صاحب ! دا وو ایه چې خوښه دې شوه که نه ؟
زمان ګل ځواب ورکړ:
- چې مې خوښه نه وای ، شراب مې چښل ، ږیره مې خریيله.
دا یې وویل او بیا یې جام ډک کړ:
بهادرخان هم جام په سر راواړاوه او بیرته د څنګ کوټې ته شو .
ناتاشا او زمان ګل بیا تر سهاره خوله پر خوله پاتې شول. زمان ګل په دې ورځ نه یوازې له سوداګریزو چارو پاتې شو او تر ناوخته بېده پاتې شو ، بلکې دا یې په وروستیو کلونو کې لومړنۍ ورځ وه چې د ګهیځ لمونځ ترې قضا کېده ، له دې کبله څنګه چې له خوبه راپاڅېد ، په بیړه یې همداسې بربنډ ځان تشناب ته ورساوه . لومړی یې غسل پرځای او بیا په منډه د بربنډې ناتاشا تر خوا له ځانه سره په راوړې مساله ودرېده او د قضا لمانځه په نیت یې غوږونو ته لاسونه پورته کړل ، لمونځ یې هم په بیړه وکړ او چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه يې سلام وګرځاوه يوازې همدومره قدرې دوعا يې وکړه:
- خدايه ! ګنهکار ته دې معافي وکړه.
او بيا د ناتاشا د ليدو په نشه کې غرق شو ، سر ته يې ودرېد او له ځانه سره بيا ګړ شو:
- يره نجلۍ ! په ولا چې د خپلې کابلۍ مينه مې در باندې ماته کړه.
غوښتل يې بيا بسترې ته شي چې د بهادرخان ټوخي له ليرې له دې پريکړې واړاوه.
بهادرخان چې سر يې له ډېرو شرابو ځښلو دروند و ، په خندا کې زمان ګل ته وويل:
- قوماندان صاحب ! دا خو ړنا غرمه ده ، بس تيارېږه چې بازار ته ناوخته شو.
زمان ګل ژر ورغبرګه کړه:
- بازار په بلا ووهه ، دا د دنيا حرص دی ولاکه سړی په مور شي.
بهادرخان موسکی شو:
- ښه سمه ده ، ځنګه وه شپه دې ؟
زمان ګل ځواب ورکړ:
- بس څه يې کوې بهادرخانه ! په وېښه او بېدنه سم له ښاپېرو سره وم ، سم دم د کوه قاف غرونو کې ټوله شپه ګرځېدلی يم.
بيا څه پوښتنه په زړه کې ورو ګرځېدله:
- بهادرخانه ! دې شين سترګې ته کومه شرعي لار نه جوړېږي چې ځلورمه مې شي؟
بهادرخان ځواب ورکړ:
- قوماندان صاحب ! دا خو څه افغانستان نه دی ، دلته خو ازادي ده ، نه به ته ټينګ شې او نه دا.
زمان ګل يې خبره تصديق کړه:
- يره دا خو دې رښتيا وويل ، اوس چې مې دا خوند وليد کله يوازې يوې ته کنښېناستی شم.
بهادرخان وپوښت:
- ښه دا نورې خبرې خو به پټې شي ، اوس به دې خلکو ته د ډېرې څه وايې ؛ قوماندان صاحب ؟
زمان ګل موسک شو:
- که رښتيا درته ووايم دې ډېرې ته ډېر پخوا تخنېدم ، بس په پلمې پسې وم او بهادرخان کټ په خندا شو.
- او پلمه نو خدای داسې پلمه درکړه چې هېڅ چاره دې نه وه.
په دې خبره دواړو په کټ کټ وخندل.

براتسلاو ، سلواک
د 2003 ميلادي کال د اکتوبر 10

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فرمان

والي او د ولایتي شورا مشر له ډېرې غوسې له خپلې چوکۍ پاڅېد او د ولایتي شورا ناستو غړو ته په لوړ غږ په خبرو ګډ شو :
- نور نو زما د زغم کاسه اخر ته رسېدلې ، که دا چورتالان همداسې ګډ وي ، له دې ولایته به یاغیستان جوړ شي.
مستوفي په خبرو کې ورولوېد :
- څه چاره په کار ده ؟
د امنیې قوماندان وویل:
- چاره دا ده چې په غلو دې نور رحم ونه شي.
ټولو په یوه ساه وویل:
- خود ، په غلو رحم باید ونه شي.
د زراعت د رئیس دې پوښتنې ټول حیران کړل:
- غل که هر څوک او هر چا پورې تړلی وي ؟
والي ژر ځواب ورکړ:
- خامخا ! عداالت باید وساتل شي.
د پوهنتون رئیس نیوکه وکړه:
- تېر کال ( 6 ) غله معاف شول ، دا ټول په موږه چاروا کو پورې تړلي وو ، د چا اوښي وو ، د چا د تره زوی ، د چا وراره ؟.
والي یې په غوسه خبرې پرې کړې.
- نور نو په هېڅ رحم نه کوم ، همدې بې عدالتۍ خو ټول ښار په غلو اړولی ، دا ځل که ما هم په غلا ونیسئ ، لاس مې باید پرې شي.
بیا یې د ښارندوی قوماندان ته مخ واړاوه او ویې پوښت:
- څومره د غلا پېښې راجستر شوي ؟
قوماندان په بیړه ځواب ورکړ:
- صاحب ! یوازې په تېره میاشت کې ( 900 ) .
والي له غوسې سور واوښت او چیغه یې کړه:
- د خدای لپاره ( 900 ) ، ؟ نور نو ځمکه ځای نه راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې په لوړ غږ امر وکړ:
- بس چې داسې ده ، نور نو باید سخت مقررات وضع شي.
د محکمې رئیس لاس پورته کړ:
- صاحب ! که قوماندان صاحب فعال شي د ( 900 ) په ځای به ( 1800 ) غله ونیسي او بیا له ما نه په همدې مېز ( 1800 ) پرېکړې لاسونه وغواړه.
په والي دا وړاندیز ډېر ښه ولګېد :
- ښه وړاندیز دی ، دا یې یوازېنۍ لار ده ، بیا دې نو څوک نر شي او غلا دې وکړي.
د والي خبره لا بشپړه شوې نه وه چې د ښار د امنیتي حوزو مشر د ولایتي شورا غونډې ته راننوت.
د هغه نابېره راتګ د شورا ټول غړي حیران کړل.
والي سمدلاسه وپوښت:
- څه خبره ده ؟
په کراره یې ځواب ورکړ:
- صاحب ! په یادولو یې د یوه پولیس په توګه شرمېږم.
والي په غوسه شو :
- خبره مه شاربه ! وایه څه ټکه رالوېدلې ده ؟
د حوزو مشر غلي شان له خولې ووتل:
- ستاسې موټر پټ شوی دی.
دې خبرې د ناستو کسانو په منځ کې عجیبه غوغا جوړه کړه ، ټول یو بل ته ځیر شول او د هر یو له خولې په حیرانتیا ووتل:
- د والي صاحب موټر !؟
- د والي صاحب موټر !؟
- د والي صاحب موټر !؟
د والي او د هغه د موټر کلمه د هر یوه په خوله څو ځله راغله او لاړه.
خو له والي بې اختیاره چیغه ووتله:
- زما موټر !
بیا یې په شړک مېز وواهه ، خو لږ وروسته په کراره شو.
- که موږ همداسې اوده یو ، ما به هم درنه زما د موټر په څېر ژوندی وتښتوي.
د والي مرستیال چې د ولایتي شورا مرستیال هم و ، دستي پاڅېد او په احساساتي توګه یې وړاندیز وکړ
صاحب ! نور نو رحم په تاخچه کې کېږدئ !
والي پوښتنه وکړه:
- نو څه وکړم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرستیال غوښتل ځواب ورکړي خو مستوفي ترې رومبی شو .
-صاحب ! فرمان ولیکئ چې له غلو دې د لاس سره یوځای پښه هم پرې شي.
ښاروال پسې زیاته کړه :
-او په فرمان کې ستاسو د موټر تښتوونکي ته ځانګړې ماده ورکړئ.
د محکمې رئیس یې په تایید وویل:
-ستاسو د موټر له تښتوونکي دې ، په لاس او پښې سربېره پوزه هم پرې شي.
ښاروال بیا په خبرو کې ورولوېد :
-له پوزې سره د غوږ لړه برخه هم.
والي ته وړاندېزونو خورا خوند ورکړ:
-بس چې داسې ونه کړم ولا چې ما او زما موټر څه چې ټول له ښځو سره بونځي ، غله دې بر زړه ور شوي دي چې سخته وېره ونه ویني ، ولا که لاري ته راشي.
د والي له دې خبرې سره ټول له ځایه راولاړ شول چې غونډه خوره اعلان کړي. د محکمې رئیس لاس پورته کړ.
-بس یوه د خیر دوعا ، زه همدا اوس دا فرمان شرعي کوم او په والي صاحب یې دستخطوم.
ده لا دا خبره غزوله چې نابېره د جرایمو مشر خبر راوړ:
-صاحب ! والي صاحب ! موټر پیدا شو .
والي ژر وپوښت:
-رښتیا !؟ کله ؟
د جرایمو مشر ځواب ورکړ:
-همدا اوس په همدې شېبه کې تېلفوني خبر راغی.
والي په خندا شو :
-د غلو غوږونه څومره لېرې اوري ، د فرمان یې بیا دومره په بیړه واورېدل.
بیا یې پسې زیاته کړه:
-ښه ! غل مو ونیو ؟
ځواب یې ورکړ.
-هو صاحب !
والي پوښتنه وکړه:
-آفرین ! څه مو پر وکړل ؟
د جرایمو مشر وروشان ځواب ورکړ:
-صاحب ! خوشې مو کړ:
والي حیران شو :
-غل مو خوشې کړ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې په غوسې چیغه کړه:
-نه ، نه !د هغه باید لاس ، پښه ، پوزه او غوږ پرې شي.
د پولیسو قوماندان مخ ور واړاوه:
-والي صاحب !نور هر څه ما ته پرېږده ، چا چې خوشې کړی ببرته به یې راپیدا کوي او که نه ولا چې ستا فرمان مې په هماغه نه وي پلی کړی.
خو د جنایاتو د مشر دې خبرې د هغه په زړه یخې اوبه وشیندلې.
-صاحب !غل ستا خپل زوی دی.
د دې خبرې په اورېدو ټول کسان حیران شول او په غونډه کې لوی سکوت راغی ، خو والي په

ورو دغه سکوت مات کړ.
-ای مهربانه خدایه !ښه دی چې فرمان مې نه دی امضاء کړی.
د محکمې رئیس په غوړه مالۍ وویل:
-جنابه محکمه خو دومره بېده نه ده ، پوهېږئ چې لېونیان د خدای له ډېرو فرمانونو معاف دي ، نو بنده لا کومه مولۍ ده ؟
والي موسکی شو:
-ښه شوې رئیس صاحب !چې تاسو شاهدي ورکړه ، زما د زوی په ماغزو کې په رښتیا هم خلل دی ، که یې موټر له لیکې اړولی وای ، بیا یې نه صاحب کېدم.
بیا یې لاسونه لپه کړل:
-اوس به ټول یوه دوعا وکړو ، خدای دې ټولو غلو ته د نیکۍ هدایت وکړي.
ناستو کسانو په یوه خوله وویل:
-آمین.
بیا یې د محکمې رئیس ته مخ ور واړاوه او لارښوونه یې وکړه:
-په دې میاشت کې هم له دې فرمانه تېر شه !دا دوعا کافي ده.

براتسلاو ، سلواکیا
د 2004 میلادي کال د جنوري 5

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیشو

د ټیلفون زنګ له درانده خوبه راکېنولم.
په بیړه مې غوږۍ پورته کړ:
- هلو !
ځواب راکړ شو .
- داکتر کاتونا یم ؟ سلامونه ! څنګه یاست ؟
ځواب مې ورکړ:
- سلامونه داکتر کاتونا ، پوره درې میاشتې له تاسې بې خبره وم ؟.
- ډېره بنده وم ؟ ته زما په بوختیاوو ښه خبر یې ؟ په درې ادارو کې کار کول او ټولو ته رسېدل ؟.
- پوهېږم ، ښاغلې کاتونا ؟ څه نوې زړې ؟
- هر څه په خپل حال ؟ یوازې نوی کورته تللې یم ؟
- نوي کورته ؟
هو ؟ په درې لکه ډالرو ، په یوه اشرافي سیمه کې.
- مبارک ، مبارک !
- خیر یوسې ؟ پوهېږې عبدالله ؟ پلار او مور زما پوره طبعه کوي ؟ خو زه ډېره سخته طبعه ؟ خپل رازونه او خپل ځانګړی ژوند لرم ؟ داسې نه ده ؟
- ولې نه تاسې رښتیا وایی ؟
هغې بله خبره کوله چې زه په خبره کې ورولوېدم:
- رښتیا لور دې هم ځانته راولې ؟
په بیړه یې ځواب راکړ:
- نه ، هغه لېونۍ له نیا او نیکه سره خوشاله ده ؟ او زه هم لازمه نه بولم ، چې له ما سره دې اووسېږي.
ما ته دستې د هغې د مېړه په باب پوښتنه سر ته راغله او د هغې خبره مې په نیمایي کې پرې کړه:
- او له ښاغلي ( چابه ) نه څه احوال لرئ ؟
له هغه مې هم طلاق واخېست !
- په اند ښېنمن غږ مې ورغبرګه کړه:
- او ؟ دا خو ښه کار نه دی شوی.
- څنګه یې کوې عبدالله ؟ ښه کار نه دی ؟ خو له اوسنیو مېړونو ګوښه ژوند ډېر خوندور دی. ته پوهېږې زه خرابه ښځه نه یم ؟ خو له هغه مېړونو نه مې هم ښه نه راځي ؟ چې د ښځې هر قدم او پل څاري ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- غوا ړم د ملګري په باب دې وپوښتم:
ژر په خبره کې را ولوېده:
- په همدې خاطر مې تاسې ته ټېلفون وکړ چې له نوي ملګري سره مې وپېژنئ ؟ زه به په ټول ژوند کې دی له ځانه لېرې نه کړم ؟.
پوهېږې ، عبدالله چې هغه ما ته څومره نږدې دی ؟ دا له تصوره لېرې ده.
- کولی شې چې د هغه په باب معلومات را کړئ ؟
- معلومات څه کوې ؟ بس ځان را وزګار کړه ؟ نوی ملګری او نوی کور دواړه به یو ځای وګورې ؟.
*** **** ****
زیږی مازیګر و چې د بوداپست اشرافي سیمې ته چې داکتر کاتونا هلته نوی کور اخېستی و ، ورسېدم ؟.
- په اسانۍ مې کور وموند . او په بیړه مې د کور په زنګ ګوته کېښوده.
- درنګ شېبه کې داکتر کاتونا ور پرانېست ، داکتر کاتونا چې یوې وړې پیشو یې د یوه عسکري باډیګارد په څېر د مخه او شا تله را تله ، ما ته په وار سره د کور هره کوټه ، پخلنځی

؟او د لمبلو ځای ؟او نور راوښودل ؟.
په رښتیا هم د هغې کور په هر حساب صفتي و او د مجارستان د وګړو ډېرو کمو یې د دې توان درلود چې په داسې ګرانبیه کور کې دې هستوګنه ولري.
- د کور له لیدو وروسته دستي داکتر کتونا وپوښتلم:
- څنګه ، خوښ دې شو ؟
ځواب مې ورکړ:
- ولې نه ! ډېر ښکلی ؟ ډېر ښکلی ؟
په داسې حال کې چې خپله نازولې پیشو یې د ډېر ګران ماشوم په څېر غېږې ته رانږدې کوله حیرانوونکې پوښتنه وکړه:
- او څنګه !؟ زما د ملګري په باب څه وایې ؟ ؟
- هغې پیشو ته اشاره کوله ، خو زه په دغې اشارې نه رسېدم. ځواب مې وغوښت:
- کوم ملګری یادوې ؟ ؟ په رښتیا مې هم ستا ملګري ته تلوسه ده ؟. تاسې خو ما ته وویل: چې تاسې دواړه به زما راتګ ته انتظار باسئ.
- هغې په کړس ، کړس وخندل ؟
- ولې هېر دې شو ؟ هغه له ما سره ستا هر کلي ته درنه رغئ څه ؟ !
- دا څه وایې ، ښاغلې کتونا ؟ تاسې سره خو دا ستاسې ګرانه پیشو وه.
- هغې بیا په کړس ، کړس وخندل ؟ او په خندنې غږ یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خو زه هم همدا یادوم ، او په تېلفون کې مې هم همدا یادوله ؟. ښايي مېره مې لا له ما سره دروازې ته نه وای درو تلای ، خو دا وفاداره ځنګه له ما د مخه دروازې ته دروسېده ؟.
- هغه بیا زمکې ته ټيټه او پیشو یې خپلې سینې پورې ونښلوله او بیا یې خپل لاسونه د هغې په سر ورتېر کړل.
- اوه ! ګرانې ؟ ته څومره ښکلې او هوښیاره یې ؟ رانږدې شه ؟ سینې ته مې جوخته شه ؟ ما چه راکړه . او هغې په رښتیا څو وارې هغه ښکل کړه ؟. بیا یې ما ته مخ راواړاوه :
- پوهېږې عبدالله ؟ دا اوس زما لپاره هر څه ده . په دې د لور ، ملګرې ، مېره او ټولو ما ته نږدې کسانو تنده ماتوم . او دا ځکه چې اوس هر چا پرېښې یم .
هغې خبرې کولې چې په درنګ شېبه کې یې پیشو بل پوړ ته پورته او د څه شي په راګوزارولو شوه .
مېرمن کتونا په بېړه له ځایه پورته او ویې ویل :
- لکه چې بیا یې کوم قاب مات کړ ؟ پوهېږې عبدالله دا د یوه نازلې ماشوم په څېر ده ، کله کله خپله سرتنبه ګې کوي .
کتونا په بېړه پیشو له پاس پوړه راښکته کړه . په داسې حال کې چې د هغې په سر یې خپل لاسونه تېرول ؟ له ځانه سره په خبرو لګیاوه ؟.
- ځُرت مه خرابوه ؟ سل قابونه درنه قربان ! پوهېږې عبدالله ، ما د مخه وویل ؟ دا د یو سپېڅلې ماشوم په څېر ده . کله چې کار وران کړي ډېره بېګناه ښه اختیاروي او هغه رښتیا د یوه سپېڅلې ماشوم په څېر زړه لري .
هغه د پیشو په باب او د هغې د وفادارۍ په باب په خبرو کې غرقه وه چې نابېره پیشو د هغې له غېږې ټوپ کړ ؟ او د باندې کوڅې ته یې مخه کړه ؟ داکتر کتونا له لېرې پرې غږ کړ :
- چېرې لاړې ؟ احتیاط ؟ ګوره د چا د موټر لاندې نه شې ؟ جنجال راته مه جوړوه راوګرځه !
په پیشو پسې له ځایه راولاړه شوه ، خو پیشو په هر څه غوږونه کاڼه او د باندې ووته !
نن د دې د خبرو ټوله موضوع د هغې پیشو وه ؟ هغې د خپلو خبرو په منځ کې ما ته د پیشوګانو ؟ د هغو وفادارې ، د هغو د ډولونو ، نسلونو ، د پیشوګانو د نړیوالو مسابقو او ان تر دې چې د پیشو وژنه په ختیځ کې د کومې ګناه انډول ده . په باب اوږده معلومات راکړل .
د پیشو په باب له ډېرو معلوماتو وروسته یې وویل :
- عبدالله ، که ته هم زما په ځای شې ، له دې پیشو به یوه شېبه مخ وانهړوې ؟ پوهېږې زه زړه نه یم ، خو ځوانه هم نه یم . ما چې په ځوانۍ کې یو حسابي مین پیدا نه کړ ، اوس به په

دې عمر کې داسې یو ایډیال سړی له کومه کړم ؟ ؟ هره ورځ او هره اوونۍ د اشنایانو بدلول د یوې ښځې حیثیت ټیټوي . او نن د دغو ګڼو ناروغیو په ضررونو هم له ما ښه بلد یې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې په خورا غرور او د موسکا په څپو کې پسې خبرو ته دوام ورکړ:
دا پیشو ، ګوره معمولي پیشو هم نه ده. دا د هغې پیشو لور ده چې مور یې څو نړیوالې لوبې وړې دي ؟ دا هم د راتلونکي کال د یوې نړیوالې لوبې کاندیده ده.
د هغې خبرې خلاصې نه وې ، چې د یو موټر د نابېره بریک دروند غږ د هغې خبرې پرې کړې ، په منډه له خپله ځایه د دروازې په لور وخوځېده. ژر یې له کوځې قهرجنې کړیکې او غږونه راورسېدل.
-ښاغلیه عبدالله ، ښاغلیه عبدالله ، ژر کاغذ او قلم راورسوه.
د هغې له وارخطایي ډکو کړیکو زه هم خورا اندېښمن او په بیړه قلم په لاس لارې ته ور ووتلم.
مېرمن کتونا په داسې حال کې چې ټول وجود یې لړزېده او په چېغو چېغو یې ژړل، په ما له لېرې را چېغه کړه ؟.
-ولیکه ! ښاغلیه عبدالله: Bud-0324
په داسې حال کې چې قهر یې ټول وجود نیولی و ، او ټول بدن یې لړزېده ؟ له ځانه سره د لېوني په څېر اخته وه.
-دا بې وجدانه قاتل ؟ چېرته به رانه وتښتي ؟ والله چې د پارلمان او صدراعظم پورې خو مې خپل غږ ورسوم ؟.
په داسې حال کې چې پیشو یې سینې پورې جوخته نیولې وه ، ما ته مخ راواړاوه.
-ښاغلیه عبدالله ما وبخښه ! زه په خفګان کې خپل ځان نه شم اداره کولی ؟. ما تر تېلفونه ورسوه هسې نه چې ولوېږم. په سترګو مې توره تیاره ده. زه باید ډېر ژر ترافیک خبر کړم ؟. دا معمولي پیشو نه وه ، د خپلې مور په څېر یې د مجارستان نوم په نړۍ کې اوچتولی شو ، سږکال له دې سره پاریس ته د پیشوګانو نړیوالو لوبو ته روانه وم.
هغې په منډه د تېلفون نمبرې دایرې کړې.
تېلفون یې دا ښوولېه چې خورا لوی غم او ټکه پرې رالوېدلې. په تېلفون کې د یو جنرال او پوځي مشر په څېر د ترافیکو ادارې ته سپارښتنې کوي:
-بلې ؟ هغه باید ډېر ژر ونیسئ ! هغه باید ستره سزا ووینې ! زما پیشو عادي پیشو نه ده ؟. هغې کولی شو ، په سږنۍ نړیواله مسابقه کې د مجارستان نوم پورته کړي ؟ د هغې له مور لا چا د هوښیارو پیشوګانو نړیوالې مسابقې نه دي ګټلې ؟.
داکتر کتونا دغه ویر داسې تروره کړې وه چې د پیشو هېڅ ډول حرکت یې نه شو محسوسولی ، او فکر یې کاوه چې پیشو یې بلې نړۍ ته لېږد پېدلې ده.
ژر مې د هغې پاملرنه د پیشو حال ته راواړوله:
-ښاغلې کتونا پیشو لا ژوندۍ ده ؟ مه وارخطا کېږه !
کتونا ژر په حال راغله ، او په وارخطایۍ یې غوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نو ښاغلیه عبدالله ، زه خو په هېڅ نه یم ، ژر کوه چې ځان روغتون ته وروړسوو.
په بیړه یې ما ته د خپل موټر کیلۍ راواچوله:
- زه په ځان نه پوهېږم ؟ ته پوهېږې او موټر خو ژر کوه ، د خدای لپاره ؟ عبدالله ما درک کړه ؟ ښایې ستا لپاره دا معمولي پېښه وي ، خو په ما لویه بلا راپرېوتې ده. زه به خپل یوازېتوب څنګه وزغمم ؟ زه به په چا لاس راکاږم ؟ ان دا لوی کور خو له کومه مهربانه موجوده پر ته زندان دی ؟ له دې پرته له ژونده کر که لرم ؟. همدا پیشو وه چې په ژوند یې زما باور پیدا کړی و ؟ ښاغلیه عبدالله دا زما د مینې او وفادارۍ سمبول و ؟ دا باید هېره نه شي ؟ هله ژر کوه ؟.
او ما په بیړه په موټر پښه ټینګه کړه ، خو لا روغتون ته نه وو رسېدلي ؟ چې د داکتر

کتونا موبایل تېلفون ته د ترافیکو د ادارې له خوا ځواب راغی:
- ښاغلې کتونا د موټر لمبر مو سم نه دی درج کړی ، که نورې نښانې ولرئ ؟ ژر د پولیسو ادارې ته خبر ورکړئ.
د دې خبرې په اورېدو داکتر کتونا له ډېره قهره په موټر کې پورته ټوپ کړ ، خو ژر مې مداخله وکړه:
- مه وارخطا کېږئ ، هر څه به سم شي ، پیدا به شي.
ژر یې په قهر راغبرګه کړه.
تاسې څه وایئ ښاغلیه عبدالله ، څنګه به هر څه سم شي ؟ زه نشم کولی دا لوی ظلم وزغمم ، دا بې وجدانه باید د قانون منګولو ته وسپارم ؟. زه به خپله ټوله سرمایه په دې لار کې ولګوم ، چې هغه ستره سزا ووینې ؟.
دې دا خبره کوله چې موږ روغتون ته راورسېدو ، خو د موټر له راښکته کېدو سره سم د کتونا ګران بیه پیشو هم ساه له لاسه ورکړه ؟.
او خدایه !او په ما یې چېغه کړه:
- ښاغلیه عبدالله ، درنیسه مې !لکه چې په ما حمله راغله ؟
په درنګ شېبه کې کتونا یخ لړګی شوه ؟ او چې تر څو مې بیړني امبولانس ته رسوله ، هغې هم د پیشو لار خپله کړې وه.

د سلواک جمهوریت
30.3.2002

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسوا

اینځرګل چې څنګه له میدانه راووت او د خپل ملګري ګلاب شاه په موټر کې سپور شو ، نو له ګلاب شاه یې لومړنۍ پوښتنه همدا وه.
- ګلاب شاه ! اوس هم ښکار کېږي ، که نجونې له پانګوالۍ سره مغرورې شوي ؟
ګلاب شاه په خندا شو :
- یره ما ویل ته به د افغانستان تنګسو له زوره غورځولی یې ، خو چې وینم دې هماغسې وږی او له زوره نه یې ولیدلی.
ګلاب شاه هم په خندا ځواب ورکړ:
- په څه شي به موړ شم ، زه پوهېدم چې یوه ورځ راځم ، بس همدا خبره وه چې واده مې ونه کړ.
ګلاب شاه حیران شو :
- رښتیا ! تراوسه لا جره یې ؟
اینځرګل ځواب ورکړ:
- بس قسم چې دا نجونې به را په یاد شوې که مې هېڅ نجلۍ ته زړه ورته ، بله دا چې له دې ځایه چې تللی یم ، په افغانستان کې مې کراره ورځ نه ده لیدلې ، ما ویل یوه ورځ به راکډه کېږم ، بیا به ښځه او بچیان چا ته پرېږدم ؟ له وطنه مې لاس مینځلی و ، ما ویل زما په ژوند خو ولاکه په قرار شي.
ګلاب شاه په ټوکه وویل:
- هسې نه چې دلته دې ګلونه نه وي کرلي !!
اینځرګل ورغبرګه کړه:
- نه ولاکه مې هېچا ته د هېڅ شي وړاندیز کړی وي.
بیا لږه شېبه غلی شو ، خو ګلاب شاه ژر وپوښت:
- څنګه غلی شوې بچو خانه ؟
اینځرګل ځواب ورکړ:
- که رښتیا درته ووایم ، زه چې تلم یوې ملګرې رانه حمل واخېست هغې ته مې سودا وه چې څنګه به شوې وي ، هسې نه چې پلار شوی وم.
ګلاب شاه وپوښت:
- څومره وخت ورسره ګرځېدلی وې ؟
اینځرګل په بیړه ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ایله دري میاشتې ، اوه لس کلنه وه ، لا اتلس کلنۍ ته هم نه وه رسېدلې ، خو د ظالم لور ډېره ښا پسته وه ، که چېرې وطن ته نه وای تللی ، واده مې ورسره کاوه.
ګلاب شاه وویل:
- شکر وباسه چې نه دې دې کړې ، ما چې کړې ، کومه ښه ورځ مې لیدلې ، دا ښځې له مورېا او تاسو سره نه جوړېږي.
بیا یې اینځرګل وپوښت:
- ښه د دې نجلۍ کوم ادرس درسره دی ؟
اینځرګل ځواب ورکړ:
- نه ! ؟همدا چې خبر شوم چې داسې خبره ده ، پښې مې ترې وویستې ، ما ویل هسې نه چې په کوم غضب وانه ورم.
ګلاب شاه وویل:
- ځه ! څه یې کوې ، اوس به واده وي.
دوی په خبرو خبرو کې بیا د ګلاب شاه کور ته راورسېدل.
د ماښامنۍ ډوډۍ وروسته چې ګلاب شاه د اینځرګل سره په پوره بنډار او اوږدو کیسو ستړی شو ،
دستي یې اینځرګل ته مخ وروا اړاوه او وړاندیز یې وکړ:
- اینځرګله یاره !لویه لار دې وهلې ، ښه پوره به ستړی یې ؟ بس اوده به شو ، او بیا یې په خندا کې خبره داسې اوږده کړه:
- بس سبا ته د شنبې شپه ده ، پخواني یادونه به تازه کړو ، نوو ډیسکو ته به دې بوځم ، چې د افغانستان او جګړې ټول غمونه دې له سره والوزي.
اینځرګل یې خبره ومنله.
- بس چې څنګه دې خوښه وي ، که نه زه خو د دې ورځې او شپې څُمار ، څُمار یم. ما په افغانستان کې داسې ورځې لیدلي قسم په خدای که به مې په اونیو ، اونیو سترګه پټه کړې وي ؟ زه

له بې خوبۍ او ستړیا سره اموخته یم.
ګلاب شاه ورغبرګه کړه:
- ته خو به اموخته یې ، خو زه چې نه یم.
دواړو په کټ کټ وخندل او بیا بېده شول.
اینځرګل ښه درانه خوب یوړ ، خو په درانه خوب کې تېرو یادونو پسې واخېست ، د شوبلو ، راکټو او نورو وسلو مرګوني غږونو ، د کورنو د سوځېدو ، د ولږې ، تنګسو ټولې شېبې یې کره شپه په خوب کې ولیدلې.
ګهیځ چې څنګه له خوبه راپورته شو ګلاب شاه ته یې حال تېر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- یره ګلاب شاه اشنا ! افغانستان او هغه دربدري مې ولاکه دلته هم که آرام پربږدي ، یو څه بېګاه ته وکړه چې دا فکرونه مې په بله خوا ولاړ شي.
ګلاب شاه ډاډ ورکړ:
- بې غمه اوسه ! دا سې سرې او سپینې به درباندې وګورم چې په خوب کې به دې هم نه ولي لیدلي.
اینځرګل له خوشالۍ وغوړېد.
- بس دغه غبره کوه ، او بیا یې ګلاب شاه وپوښت:
- څه فکر کوې ؟ اوس خو په هماغه دم کې نه یو ، څلو ښنتم کې ورګډ بېږم او ګډا هم را نه هېره ده.
ګلاب شاه وویل:
- په زړه څنګه یې ؟
اینځرګل په بیړه ځواب ورکړ:
- په زړه خو ولا چې له ( 18 ) کلن نه هم په زور کې یم درې ښځې خو په شرط زړوم.
ګلاب شاه خوشاله کړ:
- بس دغه خبره کوه ؟ دا نجونې اوس له ځوانانو نه پاخه ډېر خوښوي.
اینځرګل موسکی شو.
*** *** ***
د شپې لس بجې وې چې دواړه د براتسلاو یوې نوې پرانېستې ډیسکو ته ولاړل.
په ډیسکو کې ګلاب شاه اینځرګل ته مخ وروا ړاوه:
- دا اوسنۍ ګډا زما هم ښه نه ده زده ، بس د دې بار مخې ته اودرېږه ! سترګې جنګوه ، ضرور ښکار په لاس درځي.
ګلاب شاه لا خبره پای ته نه وه رسولې چې اینځرګل یوې تنکۍ پېغلې په ښنبه کړ.
اینځرګل په ورو ګلاب شاه ته کړل.
- دا نجلۍ ډېره راګوري ، خو ډېره وړه ده.
ګلاب شاه وهڅاوه.
- ځه امتحان یې کړه.
اینځرګل ژر د ګلاب شاه خبره ومنله ، او نجلۍ ته په بیړه ورنږدې شو ، ځان یې په بیړه وروپېژاند :
- زه اینځر یم.
- زه سونیا یم.
- سونیا ! څنګه دې زه خارلم ؟
- زما اسیایان او غنم رنګه نارینه ښه ایسي.
- خو زه او ته د عمر ډېر تفاوت لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ما ته مهمه نه ده ، زما پاخه ځوانان ښه ایسي.
اینځرګل سونیا وپوښتله.
- څو کلنه یې ؟
سونیا په بیړه ځواب ورکړ:
- 17 او ته ؟
اینځر زړه نازړه له خپل عمره ( 6 ) کلونه کم کړل.
- زه ( 34 ).
سونیا وخندل:

- زما د پلار په ځای.
خو بیا یې جدي ښه ونیوه.
- هسې ټوکه کوم ، که ( 40 ) کلن هم او سې ، پروا نه کوي ، خو له دې د زیات عمر نارینه نه شم زغملی.
اینځرګل د خوشالۍ له احساسه سره سره خورا حیران و ، خو سونیا یې حیرانتیا ژر له زړه والوزوله:
- ولې د نڅا میدان ته نه راګډېږې ؟
اینځرګل ځواب ورکړ:
- چې لږ مې سر ګرم کړم ؟ بیا به درشم.
له دې وروسته اینځر تر سهاره اوړې وغورځولې. د نڅا په پای کې سونیا له اینځره رخصت واخیست او د بیا لیدو لپاره یې ځای وټاکه ، کله چې یو له بله بیلېدل ، نو اینځر په وروو خپلې شونډې د سونیا شونډو ته ورنږدې کړې ، ترڅو یې له رودلو لږ څه خوند واخلي ، خو سونیا ژر ټېل واهه.
- نه ! نه ! دومره ژر نه ، زه دومره اسانه نه یم ، یوازې مخ یې د هغه په مخ ولګاوه او د خپل کور په لور رهي شوه.
اینځر د تېرې شپې په څېر افغانستان او د جګړې کړاوونه په خوب کې نه لیدل ، دا ځل یې ټوله شپه د خوبونو مېلمنه سونیا وه او چې څنګه له خوبه راکښېناست، بیا د هغې په چُرت کې ډوب شو ، او مازیګر یې ملاقات ته ورغی.
سونیا له خوشالۍ په غېږ کې ونیو ، او اینځر یې شونډې لا خپلو شونډو ته نه وې نږدې کړې چې د سونیا د مور د تېلفون زنګ راغی ، مورې وپوښتله:
- سلام سونیا ! چېرې یې ؟
سونیا ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له خپل نوي ملګري سره.
مور يې پوښتنه وکړه:
- دا دې لومړی ملاقات دی ؟
سونيا ځواب ورکړ:
- هو مورې !
- مور يې وپوښتل:
- څوک دی ؟
- يو غنم رنګه اسيايي ، وايي د افغانستان يم.
مور يې حيرانه شوه.
- هم ( 34 ) کلن او هم د افغانستان ؟
- هو مورې ! پاخه ډېر مهربانه وي ؟ ځوانان په مينه کله پوهېږي.
- زه مشوره نه درکوم ، لورې ! خو چې ټينګار کوې ، سبا يې کور ته راوبوله.
سونيا خوشاله شوه او اينځرګل ته يې مخ کړ:
- پوه شوې چې مور مې څه وويل ؟
اينځرګل ځواب ورکړ:
- نه.
سونيا وويل:
- بس سبا زموږ مېلمه يې ، مور مې غواړي ، تا ووينې ، د هغې تصديق ضرور دی.
اېنځرګل وپوښتله:
- مور دې څو کلنه ده ؟
- بس ستا همزولې ( 35 ).
اينځرګل وويل:
- که زما مخالفت وکړي ؟
سونيا يې اندېښنه په بيړه ځواب کړه:
- مه وېرېږه ، که مخالفت هم وکړي ، زما مخه نشي نيولی. زه د مور درناوی لرم، خو مينه ، مينه ده ، ته مې اوس په زړه کې ناست يې.

اينځرګل په بيړه ښکل کړه او مشوره يې ورکړه:
- په دې عمر کې دې مور حق لري چې تا وڅاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سونیا یې په پلوۍ وویل:
- مور مې ګرمه نه ده ، په همدغه عمر کې یې په یو چا زړه بایلود او له هماغه لومړني کوروالي یې زما نطفه په جوړېدو شوه ، خورا بیربېږي چې زه یې په برخلیک وانه وړم.
بیا یې اینځرګل ته وویل:
- خو ګوره زه دومره اسانه او ساده نه یم چې په مینه دې پوره باوري نه شم ، غېږې ته دې بېدېدو ته نه درځم . ان نه غواړم شونډې مې ورودې.
له دې وروسته یې پوره چکر سره وواهه ، او بیا سره له یو بله بیل شول.
سبا اینځرګل نېغ د سونیا کور ته ورغی او له رسېدو سره سمدستي یې د دوې د کور زنګ وواهه:
سونیا یې هرکلی وکړ ، په خوشالۍ یې دروازه پرانېستله او کور ته یې دننه کړ.
اینځرګل په بیړه پوښتنه وکړه:
- مور او نوره کورنۍ دې چېرته دي ؟
سونیا اوسیلی وویست او په ژړه غوني غږ یې وویل:
- زه له مور سره یوازې ژوند کوم ، دا مې تېره ورځ هم درته وویل ، پلار مې نه دی معلوم ، مور مې پوهېږي ، خو له ما هر څه پټوي او ښایي هغه یې هم پوره درک ونه لري.
اینځرګل حیران شو:
- دا څنګه ؟
سونیا ځواب ورکړ:
- مور مې وایي چې هغه کوم اسیایي محصل و ، د تحصیل وروستۍ شېبې یې وې. خدا یزده نوم به یې هم سم ورکړی وي و که نه !؟
او د هېواد په باب یې هم زما مور شکمنه ده.
د اینځرګل حیرانتیا نوره هم لوړه شوه:
- دا څه وایي !؟ څومره سره وګرځېدل ؟
سونیا ځواب ورکړ:
- له میاشتې هم کم.
اینځرګل مخامخ هېنداري ته ځیر شو او بیا یې په سونیا سترګې خښې کړې ، په اوږدو چُرتونو کې لاړ ، خو د دروازې د زنګ نابېره غږ یې چُرتونه ژر والوځول.
- سونیا له خوشالۍ چیغه کړه:
- هغه دې چې مور مې راغله.
او بیا یې د دروازې په لور منډه کړه:
دروازه په بیړه پرانېستل شوه ، د اینځرګل چې څنګه په هغې سترګې ولګېدې ، بیا په درنګ شېبه کې له حیرانتیا سور راواوښت ، غړې یې له وارخطایي سست شول. له خولې یې بې اختیاره ووتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-اوه !لويه خدايه !دا كومه معجزه رابښايي ، ؟دا خو هماغسې ښاېسته پاتې شوې ، بيا يې بې اختياره چيغه كړه:

-تانيا !ما وبخښه !

په تانيا هم خولې راغلې او له غوسې تكه سره شوه ، وار له واره په سپكو سپورو شوه:

-بې وفا !بې وجدانه !

خو سونيا ژر مداخله وكړه:

مور يې صبر وكړه !څه خبره ده ؟ته يې پېژنې ؟ما ته خراب سړى نه ښكاري.

اينځرګل په زاريو شو:

-هو سونيا !زه خراب سړى يم ، ستا مور په حق ده.

هغه غوښتل خپلو خبرو ته دوام وركړي چې سونيا وپوښت:

-ته نو له كومه زما مور پېژنې ؟؟ته څوك يې ؟

نور نو تانيا صبر ونه كړ په احساساتي ښه يې له خولې راووتل:

-ته ړنده يې ؟دواړه په آئينه كې وګورئ !

سونيا نوره هم حيرانه شوه:

-ولې آئينه !؟

تانيا نوره ټينګه نه شوه:

-دا بدمرغه دې پلار دى !؟

بيا يې دوعا وكړه:

-يا مسيح !ښه شوه چې په خپل وخت مې مرستې ته راغلې ، زما لور به اوس له خپل پلار سره څه كارونه نه وو كړي.

د اينځر له خولې هم چيغه شوه:

-اوه !لويه خدايه !دا څه معجزې رابښايي ؟په خپله سكنى لور دې مئين كړم ، دا څه رسوايي ده.

براتسلاو ، سلواكيا

د 2003 د اكتوبر 25

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرګه

نن شپه رستورانت له هره پلوه ډېر په زړه پورې و ، هم د ساز ډله نوې وه او هم د سندرغاړو ساز او اواز ډېر زړه راکښونکی و ، رستورانت ته راغلي مېلمانه هم خورا ډېر ډولي او فیشني وو ، د راغلیو نجونو یوې په ښکلا او ښاېست کې کمی نه و او هرې یوې له لېرې د سړي پاملرنه د ځان په لورې اړوله ، تر ټولو مهمه دا چې نن زاړه او د پاخه عمر کسان ډېر کم په نظر راتلل او داسې وختونه به کله کله پېښېدل ، بله دا چې نن د رستورانت مېزونو او د ناستې چوکیو هم بدلون کړی و او ټول خورا نوي او ښاېسته برېښېدل.

حسن به تل له خپلو دوو ملګرو سره دلته راته او تل به د شپږ کسیز مېز تر شا کېناستل ، نن یې بیا بخت وېښ و ، پر مېز مخامخ ورته درې حسینو نجونو ځایونه نیولي وو ، دوی خورا چټې پېغلې وې ، خو یوه نسبتاً د پاخه عمر لرونکې وه ، خو ډېره سخته وه چې په هغې دې د یوې تنکۍ پېغلې مینه ماته نشي ، جګه لوړه دنګه وه ، وېښتان یې تور او په ډېر عالي سویه یې خپلې زلفې په خپلو اوږو راخپرې کړې وې ، له نازک کمیسه یې تیونه چې ښه ځیرېدې له ورایه معلومېدل چې ننداره یې خورا خوندوره وه ، د سر له پاسه یې د وېښتانو چتر هم حیرانوونکی و او دې یې د عالي فېشن نماینده ګي کوله ، سترګې یې غټې او وریځې یې تورې وې او د نورو اروپایانو په خلاف یې نه وې خرییلې ، ښایي د شرقیانو دغه احساس یې ښه اېسېدلی و . د هغې شونډې هم د پخو انارو په څېر وې او هېڅ ډول رنګ یې پرې نه و مښلی ، د هغې هر څه د تعریف او ستاینې وو ، خو د هغې سرو غومبرو د هغې د ځیرې په جوړونه کې تر ټولو لوړ ځای درلود او چې کله به موسکۍ شوه ، نو د ډېره لېرې به یې د سرو غومبرو د ځلا پړک سترګې وبرېښولې.

په رستورانت کې ناستې نجونې یوه هم د دې په منګ نه وه ، خو د هغې حسینې څېرې له هر چا زړونه کښلي وو او د ټولو سترګې یوازې د دې په لور کږې وې.

حسن او ملګري یې هم له هماغه پیله په دې ګرم شول ، دواړو جوړو تر ډېره وخته یوه بل ته هېڅ ونه ویل او هر یوه جوړه بلې ته د خبرو او پېژندنې د وړاندیز په انتظار و ، یوازې د سترګو په رنګارنګ کتلو یې د یوه بل حرکات څارل ، خو د ساز او سندرو د پیل درشل و چې حسن او ملګرو یې دغه سکوت مات او دوی ته یې د پېژندنې وړاندیز وکړ د هغوی ځواب مثبت و او بیا هرې یوې ځان ور وپېژاند :

- نادیا
- ناتاشا
- تانیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاخه منګ ښکلې ښځه نادیا وه چې تر ټولو یې ځان اول ور وپېژاند حسن په خندا کې خپلو ملګرو ته په هماغه لومړي ځل وویل:
- بس همدا پخه یې زما.
له دې وروسته د دوی د پېژندنې په ویاړ د پیالو د پورته کېدو وړاندیز وشو او لا یې پیالې په سر نه وې رااړولې چې بیا سازیانو په ساز پیل وکړ، هر یو پاڅېد او دوی یې نڅا ته راوبللې.
نڅا خورا په زړه پورې وه، له یوې خوا د سازیانو مست ساز او سندرو او له بلې لورې د بربښنا د شنو، سرو ګروپانو پړقېدل او لګېدل، رستورانت ته پوره ښکلا وروبخښله، د نجونو نڅا، اتڼونو او د دوی مستو خنداګانو زړونه تخنول او نازول. ښه شېبه ونڅېدل او د نڅا په جریان کې یې ډېرې کیسې یوه بل ته سره وکړې. دواړه لورې یو له بله خورا راضي وې او چې لا ساز څه شېبه غلی شوی نه و، تر پایه یې نڅا ته دوام ورکړ، خو کله چې ساز د لنډ وخت له پاره ودرېد، نو د معمول په توګه دوی هم بېرته خپلو مېزونو ته ستانه شول. بیا یې څو څو ځلې پیالې په سر راواړولې او چې تر هغې یې دوه؟ درې ځلې پیالې ډکې او تشې کړې. ساز بیا وغړېدل شو، او د سندرغاړو مستو سندرو زړونه وتخنول، دوی هم په پوره شوق نڅا ته بیا ور ولاړ شول، خو دا ځل نادیا هغه د پاخه منګ ښکلې ښځې حسن دوی بد رګه نه

کړل. هغې تا به ویل په مېز سلیخ شوې وې، له ځایه هېڅ راونه خوځېده او په خپل ځای یې په څوکۍ ټینګه تکیه ووهله.
- اوه! خدایه! هغه ولې داسې برګه او مچو چیچلې ده؟ ښایي زموږ له کوم ملګري کومې خطا سر وهلې وي.
دا او دا ځېر ډېرې خبرې د حسن په زړه کې وګرځېدې. په بېړه یې د نڅا میدان پرېښود او د دې د احوال په لټه د دې خوا ته ورنږدې شو.
- سلام! ګرانې!؟ ولې خوابدې یې؟ څه مرسته کولی شم؟
خو د هغې هر کلی خورا سوړ و، هېڅ ځواب یې وانه ورېد. لږ څه شېبه وروسته یې ورو، خو د غضبه ډکه خبره وکړه:
- له تاسې کرکه لرم؟ مه رانږدې کېږه!
دې خبرې لکه اسماني تندر د ده په سر کې څرېکې وکړې. نه پوهېده څه وکړي او څنګه یې خبره ورغبرګه کړي او چې غوښتل یې خپل عکس العمل څرګند کړي، له لېرې یې ملګرو او ورسره نڅېدونکو پېغلو د سر په اشاره د نڅا میدان ته راوباله. هېڅ یې ونه ویل، او په ورو شان د نڅا میدان ته ورګډ شو، خو اوس نڅا او ساز دواړه په ده بد لګېده او هر څه یې اوس د خپلو ملګرو او د مېز د نجونو د طبعې په خاطر کول. په ده کې اوس د خوښۍ احساس مړ و. په نادیا چې څومره ژر مئین شو، هومره ژر یې په زړه کې کرکه هم وکرل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادیا خپلې سترګې د دوې په لور نیولي او د هر لید او کتلو یې د دښمنۍ او تربګنۍ اور بلیږي ، د دوی له هر حرکت سره یې افسوس کاوه ، او سیلي یې ویستل او بیا له ځانه سره څه وایي .
د حسن بیا طاقت ونه شو ، خو چې د ورتلو تکل یې کاوه ، بیا ساز غلی او دی هم بېرته له خپلو ملګرو سره خپل مېز ته را وګرځېد ، دا ځل د نادیا له خولې بې اختیاره ووتل:
- اوف ! چې څوک زما ستاسې په وطن کې مړ وای .
د حسن یوه ملګري په حیرانتیا وویل:
- دا څه پرتې وایي ، لکه چې نشه وي ؟
حسن په بیړه په غوسې ځواب ورکړ:
- ښه جوړه ده ، اصلاً ډېره بې حیا او لوی سترګې ده .
د دوی په دې وضعیت لکه چې د مېز نورې نجونې هم ورسېدې ، یوې په ورو شان وویل:
- دا احمقه لکه چې نشه شوه ، پام مه ورته را اړوئ.
بیا یې نادیا ته مخ وروګرځاوه !
- نادیا ! ولې داسې احمقه شوې ، دوې هرڅنګه چې وي مسافر دي ، مېلمانه دي.
- خو د نادیا احساس او کرکه هماغسې تاوده وو .
- آه ! ما به دوی ته دا نڅا ښوولې وای ، چې څوک مې هلته مړه وای .
او د ده د دې خبرې سره د حسن یوه ملګري مخ وروا ړاوه ، او په قهر یې وویل:
- څه دې کولی شول ؟ ؟ اوس دې هم څه چې د وسې پوره وي ، دریغ یې نه کړې.
بیا د هغې بلې ملګرې مخ وروا ړاوه:
- نادیا ! هیله کوم ؟ دا رستورانت دی ، نه د کرملین ماڼۍ ؟ دا د تفریح او پام غلطۍ ځای دی ، نه د ریاست او دیپلوماسۍ.
او بلې یې په پلوۍ وویل:
- ناتاشا رښتیا وایي ؟ دا زموږ او د دوی خبرې نه وي ، دا د برژنیف او کارمل خبرې دي ؟ دوی او موږ عادي خلک یو .
خو په نادیه هېڅ خبرې اغېزه نه درلوده او د پخوا په څېر یې پر له پسې دغه یوه جمله تکرارو له:
- کاشکې زما څوک ستاسې په وطن کې مړ وای ؟ تاسې ته به ما دا نڅا درښوولې وای.
دوی په همدې جنجال کې و ، چې بیا ساز او اواز د رستورانت چوپتیا ماته کړه ، تر خوا ناستو نجونو بیا دوی ته د نڅا په لور بلنه ورکړه ، ټول سره د دې چې د نڅا مینه یې نادیا په ډېره بېرحمۍ وژلې وه ، ورسره په ډېر سړښت له ځایه پورته شول.
دا ځل نه یوازې حسن ته نڅا سترې کوونکې وه ، بلکې د دواړو ملګرو چُرت یې هم ښه نه و او دوی هم په هغه شور او قوت سره نه شو نڅېدلی. او چې ورسره نڅېدونکیو نجونو یې دغه حالت احساس کړ ، نو دستي بیا یوې وړاندیز وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه پوهېږم چې ناداني نادیا ستاسې افکار ګډوډ کړل او خوشالي یې له تاسې وتختوله ، خو خیال پرې مه ساتئ !
او بلې د دې خبره ورغبرګه کړه:
- ناتاشا ربښتیا وایي ؟ هغه هسې لېونۍ ده ، پروا یې مه ساتې !
بیا یې ناتاشا ته مخ راواړاوه:
- څنګه خوښه دې نه ده ، چې یو دوه پیالې پورته کړو ، د دې خلکو فکر باید بلې خوا واوړي.
او د ناتاشا په ځای زموږ ملګري ځواب ورکړ:
- په ځای خبره ده ؟ هر څه ستړي کوونکي دي ، نور هېڅ شی خوند نه راکوي ، فکر باید بلې خوا ته لاړ شي.
او دوی ټولو یوه بل ته د تایید په ډول سرونه وښورول ، او له ځایه روان شو ، خو هلته هم له ورایه د نادیا تروې تندې او د دوی په ادرس له ځانه سره د سپکو سپورو زمزمې د دوې په ذهن کې عجیبه نندارې جوړوله. دوی هرڅنګه چې وو ، زړه لوی کړ ، او په مېز کېناستل ، خو په ناستې یې د نادیا ټنډه هم لکه پښېمانه شوې چې وي ، وغوړېده. له خولې یې هېڅ نه راکښل او قرار په خپل ځای ناسته وه.
ناتاشا دستې په ټوکو کې وویل:
- نادیا ! لکه چې عقل دې سر ته راغلی دی ؟
نادیا هېڅ ونه ویل ؟ نه ! ښه ! او نه بد.
بیا تانیا خبرې پیل کړې:
- څنګه نادیا لکه چې د چلنده دې پښېمانه یې ؟
نادیا هماغسې چوپ وه ، او لکه چې بې ځوابه وه ، ناڅاپه نادیا په خبرو راغله ؟ خبرې پرېږدئ ! راځئ چې پیالې پورته کړو !
ناتاشا ځواب ورکړ:
- موږ هم د څکلو لپاره میدان پرېښود ، خو له تا هیله کوو ، چې سیاست شا ته واچوې او نور زلمیان خوابدي نه کړې.
نادیا بیا ځواب ورنه کړ ، او لکه چې څه یې نه وي اورېدلي ، خو لږ ځنډ وروسته یې بیا خپله غوښتنه تکرار کړه:
- خبرې پرېږدئ ! پیکونه پورته کړئ !
پیکونه ډک او په لاسونو کې ونیول شول ، حسن غوښتل یو څه ووایي ، خو نادیا ترې لومړۍ او د خبرو وار یې واخېست:
- زه به یو څه ووایم ؟ خو له تاسې ټولو هیله کوم ، زما شعار بدرګه او تایید کړئ !
حسن او ملګرو ټولو د تصدیق سرونه وښورول. هغې په داسې حال کې چې لاسونه یې رېږدېدل او غومبري یې د احساساتو سره راواوښتي وو ، په زور راغږ کړ:
زما خبرې اورئ !؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ځواب ورکړ:

- هو ، ډېر ښه.

- نو پیالې پورته کړئ !

ټولو پیالې پورته کړې.

نادیا شعار پیل کړ:

- ستاسې د نابودۍ په هیله !

او پیاله یې بې اختیاره په سر راواړوله.

دې خبرې په ټولو لړزه راواسته ، حسن او ملګري یې حیران دریان شول ، حسن غوښتل څه ووایي ، خو ناتاشا پرېنښود او نادیا ته یې کلکه څپېړه ورکړه ، خو نادیا د هېڅ او هېڅا پروا ونه کړه ، او دا ځل چې تر څو د ټولو پام کېده ، د ودکا پاتې بوتل چې نیمایي ته رسېدلی و په یوه ساه ټول په سر راواړاوه. په لږه شېبه کې په رستورانت کې عجیبه ننداره جوړه شوه ، سازیانو ساز ودراوه او د رستورانت مسوول د رستورانت د تړل کېدو اعلان وکړ ، نادیا لکه حلال کړی حیوان په زمکه پړمخې برابره غځېدلې وه له خولې یې ځګونه ختل او د بې هوښۍ په نړۍ کې ډوبه وه.

کابل ، د 1370 هجري لمریز د حمل 25

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امیب

لا په شپږم ټولګي کې وم ، چې د امیب له نامه سره د بیولوژۍ د کتاب په مرسته اشنا وم. په دې اړوند مې لوستي وو : امیب یو حُجروي حیوان دی ؟ په سترګو نه لیدل کېږي ؟ او یوازې د مایکروسکوپ له لارې انسان کولی شي ، هغه ووېني ؟ هغه د هاضمې جهاز د ګډوډۍ او اختلال سبب ګرځي ، او د امیبیاز (امیبي پېچش ) ناروغي پیدا کوي ؟ خو په هغه وخت کې ما د دغه حیوان او د هغه څخه د راولاړو شوو ناروغیو خیال نه ساته ، ځکه په هغو کلونو کې د ډېرې خرابې حفظ الصحې سره سره ډېر کم ناروغېدم ، او چې کله به ناروغه هم شوم ، له ګولیو او ستنو مې ډډه کوله ، یوازې کورنۍ دوا به مې کاروله ، او یا به هم کوم یوناني طبیب ته ورتلم ، خدای به ژر ښه کړم.
وروسته له ډېرو کلونو کله چې د ځوانۍ باد زما په وجود راوالوت او ښوونځي مې هم په بریالۍ توګه پای ته ورساوه ، یوې سختې ناروغۍ راڅخه غېږه تاوه کړه. تل به مې له سرخوږۍ ، پېچ ، نفخ او باد ؟ نه سر ټکاوه. له دې سره جوخت مې رنګ هم مخ په زیړېدو شو ، او ډنګرۍ ته مې هم مخه کړه. ما چې د خپلې کورنۍ عنعنې له مخې د معاصرو ډاکترانو او درملو ډډه کوله ، له یوناني طبیبانو خورا ډېر درمل او دارو وخوړل ، خو هېڅ شي ګټه راونه رسوله. په دې سبب له یوه کال یوناني تداوۍ وروسته اړوتم ، د ښار یوه ډاکتر ته چې د داخلي ناروغیو تخصص یې له بهرني اروپایي هېواده راوړی و ، ورشم. داکتر ته ډېرو ناروغانو وار نیولی و ، او د هر چا له خوا یې د تعریف او تمجید خبرې کېدې ، ما چې دغه خبرې اورېدې ، نو په زړه کې مې د ښه کېدو هیله په پوره کېدو په نظر راغله. وروستی وار زما و ، کله چې ورحاضر شوم ، هېڅوک نه و ، او دا مې ډېره ښه خبره بلله ، ځکه فکر مې کاوه ، چې ښه او ډېر به مې سر ترپایه وګوري ، وروسته له کتنو یې لابراتوار ته واستولم.
سبا مې لومړی وار نیولی و ، دستي څنګه چې ورننوتم ، د لابراتوار د کتنې پاڼه مې ورښکاره کړه. د سترګو په رپ کې یې له نظره تېره کړه :
- ما هم همدا سې فکر کاوه.
غوښتل مې پوښتنه وکړم.
- ؟ کوم مرض دی ؟
خو دی راڅخه رومبی شو :
- او به مو د نل دي که د څاه ؟
- د څاه دي صیب !
- څاه مو ژوره ده ؟
- نه په کرایي کور کې اوسېږو ، شاوخوا مو ټول کورونه خام دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر د هر څه: کور ، حفظ الصحي ، اقتصادي وضعې ؟ په هکله خورا ډېرې پوښتنې وکړې ، او ما هم مناسب ځوابونه ورکړل. وروسته له پوښتنو يې د نسخې په ليکنه پيل وکړ:
-دا نسخه به دې جوړ کړي ، خو ګوره چې د ځاه اوبه ونه څکې ! ؟ مېوه او ترکاري بايد تل په پټاسو پرېمينځې ! له ګرد او دوړو هم ځان لېرې ساته !

***

د ډاکتر د لارښوونې سره سم مې ټوله نسخه استعمال کړه ، د روغتيايي رژيم ، پرهېز او

نظافت په هکله مې هم د هغه ټولې لارښوونې پرځای کړې. په رښتيا چې دا هر څه ګټور وختل ، د نسخې په پای کې مې په روغتيا کې بدلون راغی. له وجوده مې هم د ناروغۍ ډېرې نښې لېرې شوې ، بڼه مې بېرته تر او تازه شوه ؛ ډنګري هم څه نا څه ورکه او له منځه ولاړه ، د کسالت او ستړيا احساس مې هم مخ په کمېدو شو ، لنډه دا چې بېرته پخواني حال ته د ورتلو په لاره سم شوم.

***

خو دا هر څه ډېر لنډ وو ، کال لا نه و تېر چې بېرته مې هماغه ناروغي او کړاو د وجود مېلمه شو. دا ځل هغې دا سې زما په وجود لنګر واچاوه ، چې د هېڅ درمل زور پرې ونه رسېد ، که جوړ به هم شوم ، دا به ډېر لنډ ، او د دوو دريو مياشتو به يې تېری نه کاوه. بله دا چې دارو درملو مې هم په وجود ډېره بده اغېزه وکړه ، د هغو د کارونې په وخت کې به تل بې اشتها ، ګنګس او بې هوښه وم ، ګولۍ او شربتونه به مې هم په ډېرې سختۍ له ستوني تېرېدی ، او د ستنې په ليدو به مې د ورايه په زړه ساړه ننوتل ، او غوږونه به مې رېږدېده.
دې حال مې نه يوازې د هاضمې په جهاز ، اشتها ؟ بده اغېزه وکړه ، بلکې عصبي سېستم يې هم راته ګډوډ کړ ، حافظه مې تر ډېرې اندازې له لاسه ورکړه ، په اندک خبره به خفه او رنځېدم ، غوسه به مې هم ډېره ژر راتله.

***

دې حال څو کاله دوام وکړ او د هرې ورځې په تېرېدو سره به مې حال نور هم خراب او خړپړ کېده ، تر دې چې له ژوند نه مې لاس وځانده ، او د مرګ شېبې ته سترګې په لاره کښېناستم ، نه يوازې مې لومړنی معالج ډاکتر علاج ونه شو کړای ، بلکې د ګڼو پروفيسورانو نسخې هم زما په اميب غالبې نه شوې. کله چې به مې درمل استعمال کړ اميب به هم ورک شو ، خو چې يوې څو مياشتې به لا تېرې نه وې ، لابراتواري کتنو به بيا اميب ښوده.
د ډېرو درملو استعمال تر دې زما په طبيعت او مزاج بد ولګېده ، چې په معاصر طبابت مې بېخي باور لاسه ورکړ ، او بېرته مې يوناني طبابت ته مخه کړه. خو يوناني طبابت هم دا ځلې د پخوا په څېر نه و ، هېڅ يې د توانه نه پوره کېدل ، په دې وجه مې د هر څه زړه تور شو ، او په دې لاره کې مې ټولې هلې ځلې او زيار بې ګټې په نظر راغلل. همدا خبره وه چې ډېر به مرض نه وم پسې اخېستی ، هېڅ طبيب ته به نه ورتلم ، او نه به مې په خپل سر کوم درمل اخېستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

دا سې وخت راورسېد ، چې زه یو بهرني اروپایي هیواد ته د تحصیل له پاره واستول شوم ، ډېر خوشال وم ، نه یوازې دا چې ښه تحصیلات به وکړم او د بهرني متمدن فرهنګ او خلکو سره به له نږدې اشنا شم ، بلکې په دې وجه هم ډېر خوښ وم ، چې هلته په امیب د ککړېدو امکانات ډېر محدود و ، ځکه د نل اوبه ، عصري بیت الخلاوې ، کانکریتي سرکونو او پارکونو ؟ موجودیت د امیب وېره له منځه وړه ، او زه په دې کلک باوري وم ، که یو ځلې هلته د امیب له شره وژغورل شم ، بیا به هېڅکله له هغه سره مخامخ نه شم ، او نه به هم له هغه ځخه راولاړې شوې ناروغۍ زما په وجود کې ځالې وکړې. همدا سې هم وشول ، څنګه چې ورسېدو ، د ټول ګروپ صحي معاینات پرته له دې چې څوک روغ او که ناروغ و ، تر سره شول. لابراتواري کتنو زه نور روغ وبللم ، د وینې معاینې وې او که د وجود د مختلفو برخو دارډیوګرافي ټول سلامت وو ، خو غایط موادو دلته هم زما د امیب ګواهي ورکړه ، له هماغه پیله دستي بستر شوم ، او لا مې اوه ، لس ورځې نه وې تیرې چې روغ ، رمټ له روغتونه رخصت شوم ، د روغتون د داخلي ناروغیو ټولو ډاکترانو تصدیق کړه ، چې زه اوس روغ یم. خو له دې سره سره بیا هم زه په خپلې روغتیا باوري نه وم ، او ګڼله مې چې بیا به راباندې هجوم راوړي، خو زما خیالونه او تصورات ټول غلط وختل. زه بیا دلته ډېر کلونه ناروغ نه شوم، په بریالۍ توګه مې خپل لوړ تحصیلات پرمخ بیول. له شپږ کلن تحصیل وروسته مې د لوړو تحصیلاتو عالي ډیپلوم په لاس راوړ ، او بېرته هېواد ته راستون شوم.

***

پوره څو میاشتې وې ، چې ښه روغتیا مې لرله ، راسپارل شوې چارې مې په ډېرې ښې توګه پرمخ بیولې. هاغه پخوانی اندېښنې چې د وېجاړې روغتیا په هکله راسره ملګرې وې ، ټولې هېرې شوې وې. او ځان مې پوره روغ ، رمټ انسان بللو ، خو لا څلور ؟ پنځه میاشتې نه وې تېرې ، چې بیا د نس په درد ، د هاضمې د جهاز په ګډوډۍ اخته شوم ، خو دا ځل ما د پخوا په څېر نه ګڼله چې بیا د امیب په منګولو کې پرېوتی یم ، بلکې تصور مې کاوه ، چې د نامناسبو خوړو په وجه راته موقتي کوم رنځ پیدا شوی وی ، په بیړه ډاکتر ته ورغلم ، د تکلیف ټول حکایت مې ورته تېر کړ. ډاکتر د خپلو معایناتو وروسته لابراتوار ته بیا واستولم دا ځل بیا لابراتواري کتنو امیب ښوده. کله چې ډاکتر ته د دوهم وار له پاره د لابراتواري کتنې د پاڼې سره ورغلم ، ډېره مې ښه خرابه وه ، ډاکتر لکه چې سمدستي د پاڼې په لیدو سره په هر څه ورسېد ، په دې خاطر یې د ډاډینې له پاره وویل:

- کوم سخت رنځ نه دی ؟ روغېږې.

په شکمنه توګه مې خبره ورغبرګه کړه:

- ښه ! ؟ خیر یوسې ډاکتر صاحب !

ډاکتر بیا پاڼه مخې ته کېښوده ، او ځانه سره په خبرو شو.

- امیب ؟ هی هی ؟ په دې وطن کې څوک له دې بلا خلاصېدی شي ؟

دا مې نن لسم ناروغ دی ، چې په امیب ککړ دی.

او بیا ما تکرار کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تاسې رښتيا وايې ، زه اميب لرم.
- بلې ! ؟د نظافت پام ساته ! ؟دا نسخه دې ضروري ښه کوي.
پوښتنه مې وکړه:
- پرهېز مې څه شيان دي ؟
ځواب يې راکړ:
- نور هر څه خوره ! يوازې له خامې مېوې او ترکارۍ څه وخت پرهېز وکړه ! ؟د څاه اوبه هم درته ښې نه دي . يا اوبه ګرموه ، او يا د نل اوبه کاروه ؟له دوړو او ګردونو هم ځان ژغوره.
دستي يې په خبرو کې ورټوپ کړل:
- په دې هر څه پوهېږم ؟زه د اميب سره پوره بلدتيا لرم.
ډاکتر چې څنګه واورېدل ، په بېړه يې په نسخه کې کوم بل قلم هم ورزيات ، او درې وړې کرښې يې په پاڼه راښکودې ، چې د نسخې د درې ځلې تکرار معنا يې ورکوله. بيا يې وويل:
- چې داسې ده ؟دا نسخه به درې ځلې استعمالوې ؟ضرور به ښه شې.
د ډاکتر نسخه مې راواخېسته ، او زړه نازړه مې د هغې په استعمال پيل وکړ. پوره څو مياشتې ناروغي ورکه وه. ګومان مې وکړ ، لکه چې له شره يې خلاص شوم ، خو يو کال تېر نه و ، چې بيا ناروغي تکرار شوه. او په دې توګه مې بيا د څو تېرو کلونو حال واحوال شو ؟ښه کېدم به ، او بېرته به ناروغېدم. د مطلقې روغتيا پته هېچېرې نه لګېده ، ټولې هيلې برباد شوې. بېرته د مرګ نيتې ته سترګې په لاره شوم.
***
دا ځل مې پرېکړه وکړه ، چې هېڅ طبيب ته به ځان نه ورښايم ، يا به ومرم ، او يا به پخپله ښه شم ، خو يوه ورځ چې مې ناروغي د مرګ اندازې ته راورسېده ، پلار او ورونو مې زما د ټينګار سره سره بيا د هاضمې جهاز د ناروغيو يوه پروفيسور ته بوتلم.
پروفيسور چې ځان يې په ټول هېواد کې د هاضمې جهاز د ناروغيو يوازېنی او بې جوړې متخصص باله ، زما د ناروغيو د ټولو سوابقو په هکله له ما وپوښتل ، او کله چې زما د تېرو نسخو او خپلو کتنو خلاص شو ، د مخه تر دې چې نسخه وليکي ، راته وويل:
- که لابراتوار ته دې هم ولېږم ، بل څه نه ليکي ؟نورې ناروغۍ هم لرې ، خو اساسي ستونزه ستا اميب دی.
په بې صبرۍ په خبرو کې ورګډ شوم:
- دا څنګه اميب دی ، چې نه ترې خلاصېږم ؟
پروفيسور په ارامه توګه ځواب راکړ:
- د اميب علاج سخت هم دی او اسان هم.
پوښتنه مې وکړه:
- څنګه ډاکتر صاحب ؟
- داسې چې هغه درمل ډېر زيات دي ، چې اميب له منځه يوسي ، خو خبره دا ده چې دلته د اميب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همېشنۍ وژنې شرایط ډېر نامناسب دي. ګرانه !
ما په غوسې سره وویل:
- نو چې داسې ده ، نسخه د څه له پاره ؟
- ځواب يې راکړ:
- نا امیده کېږه مه ! نا امیدي بلا ده ؟ که نسخه بشپړه استعمال کړې ، او زما لارښوونې ومنې ، خدای به دې ښه کړي.
په بې پروایۍ سره په خبرو کې وررولوېدم:
- نو تاسې خو وایې ، چې دلته د امیب د وژنې شرایط ډېر نامناسب دي.
په بېړه يې زما خبرې پرې کړې:
- رښتیا درته وایم ؟ اساسي نسخه دا نه ده ، اساسي نسخه زموږ د هېواد حفظ الصحه ده ، په دې شېبه کې مې په غیرارادي توګه له خولې ووتل:
- نو دا حفظ الصحه به کله ښه شي !؟
ډاکتر په ورين تندي راغبرګه کړه:
- کله چې جګړه پای ته ورسېږي ، او زموږ هېواد د تمدن او پرمختګ په لور لوی ګامونه پورته کړي ؟. ایا تا په هغه هېواد کې هم کله اورېدلي وو ، چې څوک دې په امیب ، اسکارېس ، جاردیا ، تینا ؟ ککړ شوي وي ؟ او که داسې څوک وو هم ، د ګوتو په شمار به وو ، خو زه په ازموینې سره درته وایم ، چې دلته به هېڅ کورنۍ نه وي ، چې په دا څېر پرازیتي ناروغیو دې نه وي ککړ.
زه بیا په خبرو کې ورګډ شوم ، دا ځل مې ډېر مزاج تریخ شوی و.
- دا خو نو ډېر کلونه نیسي ؟ تر هغې وخته به زه ؟.
ډاکتر مې دستي خبره پرې کړه:
- دا د ډاکتر له پاره نه ښايي ، خو تاسې ما اړ باسئ چې درته ووایم.
په وارخطایۍ مې وویل:
- څه باید راته ووایې ؟
ځواب يې راکړ:
- باید درته ووایم ، تر څو چې زموږ همدا حال وي ، د دې ناروغیو علاج هم ډېر ناشونې خبره ده.
بیا يې نسخه راوسپارله:
- خو خدای مهربان دی. ښه به شې ؟ نا امیده کېږه مه !
او ما لکه د ډاکتر خبره چې هېڅ نه وي اورېدلي ، په مات زړه د ډاکتر نسخه کله چې له کتنځي راووتم ، په ناخوداګاه ډول شیرې شیرې کړه ؟ بیا هېڅا ته ورنغلم او ټول فکر او هوس مې له هغې ورځې دې ته راګرځېدلی دی چې کله به جګړه پای مومي ، او کله به موږ د تمدن په لور اوچت ګامونه اخلو ؟

جلال آباد ، د 1373 کال د وري 25

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**